عمومي مجمع

۳۰ آګست، ۲۰۲۴

اصلي نسخه: په انګلیسي ژبه

**د ملګرو ملتونو سازمان عمومِي مجمع**

**۷۹مه غونډه**

د وړاندې شوې اجنډا ۷۱ (ب) برخه*

**د بشري حقونو وده او ساتنه: د بشر حقونو او بنسټيزو آزاديو د اغېزناک تطبيق د بهبود لپاره د د بديلو ليدلوريو په ګډون د بشر حقونو په هکله پوښتنې**

# په افغانستان کې د بشر حقونو وضعيت*

## د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي منشي يادښت**

د ملګرو ملتونو عمومي منشي وياړي چې د بشر حقونو شورا د ۵۴/۱ پرېکړه ليک سره سم په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعيت په برخه کې د ځانګړي راپور ورکوونکي، ښاغلي ريچارد برنيت، راپور عمومي مجمع ته استوي.

* A/۷۹/۱۵۰

** دغه راپور د ځينو دلايلو له امله چې د لېږونکې اداري له کنټروله بهر دي، له خپل اصلي تاريخ وروسته استول شوی دی.

Please recycle

# په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت په برخه کې د ځانګړي راپور ورکوونکي، ښاغلي ریچارد بینیت، راپور

*لنډیز*

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په هکله د ځانګړي راپور ورکوونکي، ښاغلي ریچارد بینیت، دغه اوسنی راپور د نومورې د پخواني راپور پر بنسټ جوړ شوی او د ۲۰۲۴م کال له جنوري میاشتې نه د همدې کال تر آګست میاشتې پورې په راغلیو پرمختګونو متمرکز دی.

## I. سریزه

۱. واک ته د طالبانو له رسېدو ۳ کاله وروسته د افغانستان خلک لا هم له ژورېدونکي د بشري حقونو او انساني او سیاسي کړکېچ څخه کړېږي. اوسنیو واکمنو د جنسیتي سرکوب او د ښځو او نجونو د محروموولو بنسټیز شوی سیستم لا زیات تقویه او شدید کړی دی، مدني ټولنې او رسنۍ یې ځپلي او د عدالت، تبعیض نه کولو، برابرۍ او د قانون حاکمیت اصول یې له پامه غورځولي دي.

۲. له دې سره سره، د افغانستان خلکو له ځانه ستره زړورتیا او غیرت ښودلی دی. ځانګړي راپور ورکوونکي له هغو نجونو او ځوانو ښځو سره چا چې د طالبانو له امر څخه یې زده کړو ته د لاسرسي لپاره سرغړونه کړې، هغو خبریالانو سره چا چې له بشري حقونو څخه د سرغړونې په برخه کې د راپور جوړولو لپاره یې خپل خوندیتوب او امنیت په خطر کې اچولي، د بشر حقونو هغو مدافعینو سره چا چې جنسي او د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی مستندوي او هغو بشردوستانه کارکوونکو سره چې د نړېوالو مالي مرستو د کمښت په موده کې هم نه ستړې کېدونکی کار کوي ترڅو مرسته وړاندې کړي؛ خبرې کړې دي.

۳. لکه چې په پخوانیو راپورونو کې یادونه شوې وه، د بشر حقونو نړېوالو مهمو معاهدو د یوې برخې په توګه افغانستان ځینو مشخصو مکلفیتونو ته ژمن دی. اوسني واکمنان په ټول هېواد باندې قبضه لري نو دې ته له پام پرته چې په رسمیت پېژندل شوي یا نه، د دې مکلفیتونو ترسره کول یې هم مسئولیت دی. ځانګړی راپور ورکوونکی اوسنیو واکمنو ته ور یادوي چې د دې مکلفیتونو په ترسره کولو کې نه یواځې دا چې د بشر حقونو له سرغړونو څخه ډه ډه کول شامل دي، بلکه د یو داسې چاپېریال رامنځته کول هم په کې دي چېرته چې د بشر حقونو ته درناوي وشي. په دې کې بنسټونه رامنځته کول او د قوانینو او پالیسیو جوړول هم شامل دي چې د قانون حاکمیت تضمین کړي او حساب ورکول دود کړي.

۴. یو شمېر پرمختګونه هم رامنځته شوي دي. له کله نه چې په افغانستان کې طالبان واک ته رسېدلي، په شخړه کې د پام وړ کموالی راغلی او په دې سره د بشر حقونو او نورو برخو ته لاسرسی زیات شوی دی، په ځانګړي ډول لرې پرتو او کلیوالو سیمو ته. دا چې واکمنو د فساد پر وړاندې جدي ګامونه پورته کړي، نو د طالبانو تر کنټرول لاندې افغانستان کې فساد هم کم شوی. پر دې سربېره، د کوکنارو په تولید کې هم د پام وړ کموالی راغلی، ځکه چې طالبانو د کوکنارو په راټولولو او پروسس خپل بندیز لګولی. خو د کوکنارو پر وړاندې دغو هلو ځلو هغه بزګران سخت زیانمن کړي چې د کوکنارو بدیل ته لاسرسی نه لري.

۵. دغه لړې ودې هم د طالبانو له لوري د ښځو او نجونو د حقونو د تضعیف، د مدني ټولنو د سرکوب او د اقلیتونو او حاشیې ته تللو ټولنو پر وړاندې د روان تبعیض، چې د افغانستان له نړېوالو مکلفیتونو او ژمنتیاوو سره په ټکر کې دی، له امله کمرنګې شوې. د هېواد د پرمختګ لپاره هره لاره باید د بشر حقونه له یو اصولي ټولشموله او همغږي شوي لیدلوري او ښودل شویو، د اندازې وړ او په خپلواک ډول تایید شویو ودو او بهبود سره یوځای وي.

## II. کاري میتودونه

٦. اوسنی راپور چې د بشر حقونو شورا د ۱/۵۴ پرېکړه لیک په اساس وړاندې شوی، په افغانستان کې د بشر حقونو په برخه کې د شویو پرمختګونو یوه ټولیزه (کُلي) طرحه وړاندې کوي چې ځانګړی تمرکز یې په هغو پرمختګونو دی چې د ۲۰۲۴م کال د جنوري- آګست میاشتو تر منځ شوي دي. یاد راپور د ځانګړي راپور ورکوونکي د هغه راپور پر بنسټ جوړ شوی دی چې د عمومي مجمع ۸۸مې غونډې ( A/78/338) ته وړاندې شوی او د دغه راز د هغه راپور پر بنسټ ترتیب شوی چې د نوموړي له لوري یادې شورا ته د افغانستان د بشر حقونو (A/HRC/55/80) ، تبعیض، بېلولو ااو انساني کرامت او د ښځو او نجونو د محروموولو د بنسټیز شوي سیستم د پدېدې په هکله وړاندې شوی و. A/HR/56/25

۷. ځانګړي راپور ورکوونکي د خپل ماموریت د ترسره کولو لپاره د واکمنو له استازو سره اړیکې نیولې. په دې برخه کې د راپورونو او بیانونو شریکول، په فردي قضیو کې د تورونو د لیکونو استول او د بشر حقونو په هکله د معلوماتو لټول شامل دي. ځانګړی راپور ورکوونکی خپګان څرګندوي چې واکمنو ورته ویلي چې ده ته به ویزه ورنکړل شي چې افغانستان ته راشي. دی له هغو غوارړي چې په خپله دغه پرېکړه له سره غور وکړي او وایي چې متوالي پرېکړه لیکونه له ټولو اړوندو لوریو څخه غواړي چې له ځانګړي راپور ورکوونکي سره پوره همکاري وکړي. له افغانستان څخه د ځانګړي راپور ورکوونکي منع کول د افغانستان د خلکو په ګټه کار نه دی او په دې ډول واکمن چارواکي نه شي کولی له نړېوالې ټولنې سره د تعامل لپاره پُلونه جوړ کړي.

۸. که څه هم چې ځانګړي راپور ورکوونکي د راپور جوړولو پر مهال افغانستان ته سفر ونکړای شو، خو نوموړی په پراخ ډول په مخامخ او آنلاین توګه له ډېرو لوریو سره په افغانستان دننه او بهر په تعامل او اړیکه کې و. په دوی کې قربانیان، شاهدان، د بشر حقونو مدافعین، ښځې، د ملي او نړېوالو سازمانونو ښځینه استازو، خبریالان، ډيپلوماتان او علمي څېړې شاملې دي. دغه راز هغه د ملګرو ملتونو له کارپوهانو او له هغې جملې د ځانګړو کړنلارو د ماموریت له لرونکو او د ملګرو ملتونو ادارو سره همکاري کوي. عمومي مجمع ته د هغه له وروستي راپور وروسته نوموړي قطر او ترکیې ته رسمي سفرونه کړي دي او په ډېری هېوادونو کې یې له افغانانو سره لېدلي. ځانګړی راپور ورکوونکي د یادو هېوادونو له دولتونو څخه د هغوی د مرستې او همکارۍ په پار ډېره منه کوي.

۹. د ملګرو ملتونو د نقدینګۍ روان کړکېچ، په بشپړ ډول د خپل ماموریت د ترسره کولو لپاره د ځانګړي راپور ورکوونکي په وړتیا باندې اغېز کړی دیوړتیا . د کلیدي کارکوونکو بستونه خالي پاتې دي، په داسې حال کې د پیسو په رسېدو کې ځنډ، د سفر کولو او مستندولو چارې په منفي توګه اغیزمنې کړي دي.

۱۰. ځانګړي راپور ورکوونکي، د خپلواکۍ، بې طرفۍ او دقت اصولو ته په پوره درناوي، د خپل ماموریت ترسره کولو ته دوام ورکړی دی. په دې کې د معلوماتو د مستندولو او تاییدولو ترټولو غوره طریقې او په ځانګړي ډول هغه لارښوونې او میتوډولوژۍ چې د بشر حقونو د عالي کمیشنرۍ د دفتر له لوري وړاندې شوي، شاملې دي. هغه معلومات چې ښايي د کسانو هویت څرګند کړي، له دې راپور څخه لرې شوي دي. ځانګړي راپور ورکوونکي له بشر حقونو څخه د سرغړونو د معلوماتو د مستندکولو او ساتلو لپاره یوه خوندي ډیجیټلي ذخیره په کار اچولې ده.

## III. د هغو ډلو د بشري حقونو وضعیت چې په ځانګړي ډول د اندېښني وړ دي

### A. ښځې او نجونې

۱۱. طالبانو د افغانستان د نړېوالو تعهداتو څخه په سرغړونې؛ د جنسي تبعیض، سرکوب، انساني کرامت ته د نه درناوي او د ښځو او نجونو د محرومولو یو بنسټیز شوي نظام او سیستم د تحمیلولو او پلي کولو کار ته دوام ورکړی. نړېوال قوانین وايي چې باید اقتصادي، سیاسي او کلتوري نظامونو ته له پام پرته بشر حقونو او بنسټیزو آزادیو ته وده ورکړل شي او ساتنه یې وشي.

۱۲. لکه چې د ځانګړي راپور ورکوونکي په مخکینیو راپورونو کې یې یادونه شوې وه؛ طالبانو داسې فرمانونه، اوامر او قوانین پلي کړي چې عملاً د ښځو او نجونو هر اړخ محدودوي او دوی له خپلو بنسټیزو حقونو څخه منع کوي، لکه د سفر، زده کړو، کار، حفظ الصحې، د بیان آزادۍ او عدالت ته د لاسرسي حقونه. په داسې حال کې چې ښځې او نجونې له دا ډول سرکوبوونکو پالیسیو سره مخ دي، افغانان، که هغه د هر جنسیت وي، له خپلو حقونو څخه بې برخې شوي دي چې ویجاړونکي او اوږدمهاله زیان رامنځته کوي.

۱۳. د ښځو او نجونو پر وړاندې نویو له تبعیضه ډکو اقداماتو، پخواني فرمانونه لا شدید کړي دي. د روان کال په جولای میاشت کې د طالبانو لوی مشر د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون تصویب کړی چې د دوی له لوري د ښځو او نجونو ربړول لا نور بنسټیز کوي. یاد قانون پخواني وضع شوي محدودیتونه لا بنسټیز کړي، لکه د محرم موجودیت، حجاب او په عامو ځایونو کې د ښځو او نارینه وو بېلوالی. نور احکام د ښځو او نجونو په ژوندانه، جسمونو او چلند د طالبانو کنټرول ځواکمنوي. که ښځې له کور څخه بهر سندرې وايي یا خبرې کوي، جزا ورکول کېږي، په داسې حال کې چې مسلمانو ښځو ته سپارښتنه شوې چې له غیر مسلمو ښځو څخه مخ پټ کړي. نامحرمې ښځې او سړي له دې منع شوي چې د یو بل ځان او مخونو ته دې وګوري (د دې قانون په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي IV. A برخې ته مراجعه وکړئ).

۱۴. د نویو قوانینو او اوامرو په صدور سربېره، اوسنیو چارواکو د خپل له تبعیض او سرکوب څخه ډک سیستم پلي کولو ته دوام ورکړی چې دا موارد په کې شامل دي: په هغه کسانو برید او نیول چې مقاومت کوي او د فزیکي تاوتریخوالي له لارې سړي او هلکان له دوی (طالبانو) سره یوځای کېدو ته مجبورول. په جنوري میاشت کې اوسنیو واکمنو له هغو ښځو او نجونو سره چې ګواکې حجاب یې نه و کړی، بد چلند وکړ او ویې نیولې. له نورو سړیو، هلکانو او د مختلفو جنسیتونو لرونکو کسانو سره هم په دې تور بد چلند شوی او نیول شوي وو چې د طالبانو له لوري تحمیل شوی لباس یې نه و اغوستی.

۱۵. د ښځو او نجونو په حقونو باندې د محدودیتونو زیاتولو د دوی په فزیکي او ذهني روغتیا ژور او زیاتېدونکي اغېزې کړې دي. افغان ښځې د مقاومت هڅه کوي او د خپل اضطراب، انزوا او سترس په اړه وايي. په افغان ښځو او نجونو کې د ژور خپګان، ځان وژلو او د ځان وژلو د فکر ډېرېدونکي راپورونه ورکول کېږي.

ځانګړی راپور ورکوونکی، نه یوازې په ښځو او نجونو، بلکې په هلکانو، سړیو او د مختلفو جنسیتونو په نورو کسانو باندې د طالبانو د پالیسیو او سیاستونو د اوږدمهاله اغېزو په هکله اندېښمن دی. د دې هرڅه له کنټرولولو پرته به نوي نسلونه په یوه داسې ټولنه کې چې ښځې او نجونې غیرانساني کوي او قیدوي، لوی شي چې دا کار به د بین النسلي زیان او تلقین سبب ګرځي. یوه افغانه خبرداری ورکوي:

۱٦. "مونږ باید دغه ذهنیت ته چې ښځې او نجونې ددې اړتیا نه لري چې ښوونځي ته لاړې شي، او ددې وړتیا نه لري چې کار دې وکړي او حقونه دي ولري؛ لرې کړو. دا عادي کېدلای نشي."

۱۷. ځانګړي راپور ورکوونکي وار له مخه ګواښ کړی که طالبان د ښځو او نجونو د جنسیتي سرکوب او غیرانساني کولو کار ته دوام ورکوي، دا کار به یې په افغانانو او په ځانګړې توګه هلکانو او ځوانانو کې خطرناکه ایډیالوژي وکري چې په راتلونکي کې به سیمې او له هغې ورهاخوا امنیتي خطرونه رامنځته کړي.

۱۸. ځانګړی راپور ورکوونکی دې پایلې ته رسېدلی چې د طالبانو له تبعیض نه ډک، د ښځو او سړیو بېلوونکی او انساني کرامت ته د نه درناوي او محروومولو بنسټیز شوی سیستم او نظام ټولشموله او میتوډولوژیک دی او د فرامینو، اوامرو او پالیسیو له لارې تحمیل شوی او پلی شوی دی. دغه راز نوموړی دې نتیجې ته هم رسېدلی چې د جنسیتي سرکوب دغه سیستم ښایي د بشریت پر ضد د جنایاتو لکه جنسیتي ځورونې سبب شي.

۱۹. افغانانو او په ځانګړي ډول ښځو، چې له ځانګړي راپور ورکوونکي سره لېدلي، په مکرر ډول تاکید کړی چې د جنسیتي آپارتاید اصطلاح په دقیق ډول د هغو بېلابېلو او بین النسلي زیانونو کُلیت بیانوي چې د دوی په وړاندې شوي دي. دغه راز ځانګړی راپور ورکوونکی معتقد دی چې دا اصطلاح د طالبانو د سرغړونو بنسټیز شوی او ایډیولوژیک ماهیت په ځان کې رانغاړي. هغه باور لري چې د افغانستان وضعیت باید د بشریت پر ضد جنایت په توګه د جنسیتي آپارتاید، چې په جنسیت شموله ډوله تعریف شوی، د تدوین بحث را مخې ته کړي.

۲۰. د طالبانو له لوري څو وجهي او بنسټیز شوی د جنسیت سرکوبوونکی او له تبعیض ډک سیستم یو ځواکمن او اغیزناک نړیوال اقدام ته اړتیا لري. ځانګړی راپور ورکوونکی د (ټولو وسیلو لیدلوري) غږ کوي چې د حساب ورکولو او ډېرې شوې مستندسازۍ یو ترکیب دی؛ له یو ستر ملاتړ، ګډون او د افغانستان خلکو له خوندیتوب سره. له خلکو څخه مطلب ښځې او نجونې، د بشر حقونو مدافعین، توکمیز او مذهبي اقلیتونه او او داسې نور دي. نوموړی د هغو هڅو ملاتړ کوي چې موخه یې د ژوندي پاتې شویو کسانو لپاره د عدالت غوښتنې پروسو پېژندنه او ځواکمنول دي او دا چې افغانستان د بشر حقونو څخه د سرغړونو له امله حساب ورکولو ته کښېنوي.

## جنسي او د جنسیت په اساس تاوتریخوالی

۲۱. د بندیانو ښځو پر وړاندې د جنسي تاوتریخوالي راپورونو ځانګړی استازی خفه کړی دی. نوموړي هغه جنسي تاوتریخوالی مستند کړی چې د ۲۰۲۴م کال په جنوري میاشت کې د (نامناسب) او (ناسم) حجاب په وجه د دوی له لوري د ښځو د سرکوبولو پر مهال شوی دی. دا ډول ښځې وايي چې دوی د پولیسو حوزو ته بیول شوي دي، هلته وهل شوي او ښکنځل ورته شوي او په ځینو مواردو کې پرې جنسي تېری شوی دی. یوه ښځه وايي:

" هغوی چې رانه کله پوښتنې کولې، وهلم به یې، زما سر یې له دیوال سره جنګاوه... له هغوی څخه یوه یې زما حجاب لرې کړ او زما په پټو ځایونو/اندامونو یې لاس وواهه."

۲۲. ځیني نورې معتبرې سرچینې زیاتوي چې د ښځو د سرکوب پر مهال له هغوی څخه ځیني یې بیول شوي او جنسي تېری ورباندې شوی دی. ځینو نورو نیول شویو ښځو ځانګړي راپور ورکوونکي ته ویلي چې که څه هم په دوی جنسي تېری نه دی شوی، خو په ټولنه او کورنیو کې بدنامه شوي، ځکه هغوی پرې باور نه کوي چې په دوی دې تېری نه وي شوی.

۲۳. د تېري او نور جنسي تاوتریخوالي پر مهال د سکوت کلتور او ټولنیز شرم او په ځانګړي ډول د قرباني کس ملامتول په دې معنا دي چې د دې ډول پېښو زیاته برخه پټه پاتې کېږي او په راپورونو کې نه راځي. د ښځو په راوتلو بندیز په دې معنا دی چې د جنسي تېري قربانیان طبي، ارواپوهنیزو او نورو خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې له ستونزو سره مخ دي.

۲٤. ځانگړی راپور ورکوونکی د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لوړو کچو، په ځانګړي ډول د کورني تاوتریخوالي او هغه چې د ژوند د شریک له لوري وي، په ژوره توګه اندېښمن دی. په لوړه کچه جنسیتي تاوتریخوالی د جمهوریت پر مهال هم دود و. یاد تاوتریخوالي د طالبانو د واکمنۍ په دوران کې ډېر شوی چې د هغو تبعیض آمیزه پالیسیو او قوانینو نتیجه ده چې ښځه د نر تر کنټرول لاندې راولي او د هغوی خپلواکي اخلي(لکه اقتصادي خپلواکي) او دغه راز د مهمو حقوقي، د خوندیتوب او ملاتړ میکانیزمونو لرې کېدل. د ښځو پر تګ راتګ باندې د محدودیتونو او د ښځینه وکیلانو او قاضیانو په کار بندیز عدالت ته د ښځو د لاسرسي چاره تضعیف کړې ده.

## د ښځو او نجونو ساتنه او ګډون

۲۵. د ښځو، سولې او امنیت پروګرام د مخته بیولو لپاره هڅې، د طالبانو په واکمنېدو سره په شدیده توګه ځنډول شوې دي. په سیستماتیکه توګه د ښځو او نجونو د حقونو له منځه وړلو، د د اجنډا یا پروګرام په ساتندویه برخه یو قوي تاکید ضروري کړی دی چې تمرکز به یې د ښځو حقونو د مدافعینو په ساتنه، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په مخنیوي او ورته په رسیدګۍ او په یو جنسیت محوره بشري اقدام وي. دا ډول اقدام ډېر ضروري دی او باید ملاتړ یې وشي.

۲٦. له عادي ژوند څخه د ښځو او نجونو اېستل او محروموول په دې معنا دي چې دوی په افغانستان کې د تصمیم نیولو او سیاسي پروسې څخه په بشپړ ډول لرې شوې دي. دې ته په ځواب کې په دیاسپورا کې ډېری فعالان په ځانګړې توګه ښځې په فعاله توګه بسیج کېږي ترڅو د بشري حقونو وضعیت ته دوامداره نړیواله پاملرنه تضمین کړي. په هېواد دننه او بهر افغان مېرمنو په دوامداره توګه د ښځو او نجونو د حقونو لپاره غږ پورته کړی چې باید په افغانستان کې په سیاسي او د تصمیم نیولو پروسو په مرکزیت کې ورته ځای ورکړل شي. ځانګړي راپور ورکوونکي هم دغه غږ بدرګه کړی دی.

۲۷. ځانګړی راپور ورکوونکی د ښځو، سولې او امنیت د یاد پروګرام له مخې د دولتونو مکلفیتونه یادوي چې د سولې او امنیت د تصمیم نیولو په پروسو کې د ښځو مساوي ګډون او جنسیتي برابرۍ ته وده ورکړي. نوموړی وایي چې طالبان د سولې له هغو خبرو اترو چې په زیاته اندازه یې د ښځو حقونه او غږونه حاشیې ته یوړل، وروسته واک ته ورسېدل. د افغانستان په هکله په بحثونو کې د ښځو د مساوي، متداوم، خوندي او معناداره ګډون د تضمینولو لپاره د لارو د پیدا کولو لپاره سترو هڅو ته اړتیا ده. ځانګړی راپور ورکوونکی اندېښمن دی چې په سیاسي پروسو کې د ښځو یو تدریجي او ځنډنی شمولیت دې وکولای شي د ښځو او هغو نورو لپاره چې د نژاد، دین، جنسیت، سن او نورو هویتونو پر اساس منزوي شوي دي، د پام وړ بدلون راولي.

## B. ماشومان او ځوانان

۲۸. د ملګرو ملتونو عمومي مجمع ته د خپل مخکینِي راپور وروسته، ځانګړي راپور ورکوونکي ته د ماشومانو پر وړاندې د جدي سرغړونو معلومات رسېدلي دي چې په هغو کې د ماشومانو وژنه او معلولول، د ماشوم سرتېري په توګه د هغوی ګومارل، جنسي تېری او د جنسي تاوتریخوالي نور ډولونه، په ښوونځیو او روغتونونو بریدونه او له بشردوستانه مرستو بې برخه کول شامل دي.

۲۹. له ۲۰۲۱م کال څخه وروسته په جنګ جګړو کې د یو پام وړ کموالي باوجود، له جګړې څخه د پاتې چاودېدونکو توکو (ERW) له امله د ماشومانو د وژل کېدو او په ژوره توګه د زخمي کېدو په پېښو کې په بوړنووونکي ډول زیاتوالی راغلی. له دې سره سره چې د په بمونو او نورو چاودېدونکو توکو د تلفاتو په شمېر کې له ۲۰۲۱م کال وروسته د پام وړ کمښت راغلی، خو افغانستان له څلوېښت کلنې جګړې وروسته جګړې د چاودېدونکو پاتې شونو لوړه کچه لري چې ټول ۳۴ ولایتونه اغېزمنوي. د ماین پاکۍ خدماتو په خبره، د ۲۰۲۴م کال د جنوري او جولای میاشتو ترمنځ د جګړې د پاتې شویو چاودېدونکو توکو له امله ۱۰۸ تنه وژل شوي دي چې یو خورا لوړ شمېر -یعنې ۹۱- یې ماشومان دي (۱۹ نجونې او ۷۲ هلکان) او ۲۴۷ تنه نور ژوبل شوي چې ۲۰۳ (۳۰ نجونې او ۱۷۳ هلکان) یې ماشومان دي په دې قربانیانو کې اکثریت هلکان دي چې د فلزاتو په ټولولو یا په لوبو بوخت وو. د ۲۰۲۴م کال د مارچ میاشتې په پنځمه، پنځه هلکان او څلور نجونې په غزني ولایت کې هغه وخت ووژل شوې چې یوه یې یو ناچاودېدلی توکی چې ګومان کېږي له لسیزو هلته پاتې و، را واخېست. د ۲۰۲۴م کال د جون په پنځمه درې نجونې او یو هلک په کابل کې د چاودېدونکو توکو د چاودنې له امله ټپیانې شوې.

۳۰. معتبره راپورونه ښيي چې اوسنيو چارواکو او نورو وسلوالو ډلو لا هم د جګړې لپاره يا د حمايې په رول کې د ماشومانو ګمارنې ته دوام ورکړی چې په چېک پاینټونو د واکمنو له لوري د دوی درول هم په کې شامل دي. د طالبانو له واکمنېدو وړاندې هم د پخواني دولت د امنيتي ځواکونو په ګډون جګړې ښکېلو لوريو ماشومان ګمارلي و، نو د د بیاځلي یوموټي کېدو، روزنې او د مسلکي روزنې پروګرامونو په ګډون د بیاځلي ادغام پروګرامونو ته دوامداره اړتيا ده.

۳۱. لکه چې په مخکينيو راپورونو کې يې هم يادونه شوې وه، ځانګړی استازی د ماشومانو پر وړاندې د جنسي تاوتریخوالي د ډولونو په هکله اندېښمن دی. په دې ډولونو کې بچه بازۍ په نوم عمل شامل دی چې د ماشوم ځورونې او استثمار یو شدید ډول دی چې د طالبانو له حکومت وړاندې هم دود و. ځانګړی راپور ورکوونکی وايي چې بچه بازي د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په قانون کې منع شوې ده خو په ځورونکې توګه د ماشومانو د ساتنې د میکانیزمونو کموالی لېدل کېږي، په ځانګړې ډول له دې امله چې طالبانو مهم حقوقي او د پالیسۍ چوکاټونه او ځانګړي شوې بنسټونه منحل کړل او قرباني ماشومان يې بې له کافي ملاتړ، خدمتونو او عدالت ته له لاسرسي پرېښودل.

۳۲. په ښوونیزو ځايونو باندې د بریدونو په هکله دوامدار او معتبر تورونو شته چې د نامعلومو وسله والو له لوري په ښوونځيو باندې فزيکي بريدونه او د ښوونکو نيول او بندي کول په کې شامل دي. د طالبانو د مراکزو په توګه له ښوونځيو د کار اخېستنې او له ښوونیزو تاسیساتو سره څېرمه د وسله والو ډلو د بريدونو په هکله ځانګړي راپور ورکوونکي ته راپورونه رسېدلي دي. د نظامي موخو لپاره د ښوونځيو کارول کولای شي ياد ښوونځي د نظامي بريدونو هدف وګرځوي. دا کار د ماشومانو د تعليم په حق باندې ناوړه اغېز کوي او دا له هغو مکلفيتونو سرغړونه ده چې افغانستان يې د ماشوم حقونو د کنوانسيون او د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو نړېوال ميثاق له مخې لري.

**زده کړو ته لاسرسی**

۳۳. درې کاله وشول چې افغانې نجونې نشي کولای له شپږم ټولګي پورته ښوونځي ته لاړې شي. کله چې په لومړيو کې طالبان واک ته ورسېدل، مشرانو يې ويل چې له اووم ټولګي پورته نجونو ښوونځي به تر هغې چې شرايط په بشپړ ډول له اسلامي احکامو سره سم برابرېږي، وځنډول شي. خو اوس وايي چې دا يوه "داخلي موضوع" ده او لا هم روښانه نه ده چې د نجونو پر مخ به ښوونځي کله بيا پرانېستل کېږي او آيا به پرانېستل هم شي کنه؟ تعليم له دې سره سره چې خپله یو بشري حق دی، د نورو حقونو د تحقق لپاره هم ضروري وسیله ده. له تعليم څخه د ښځو او نجونو منع کول د بې شمېره ژورو او جنسيتي زيانونو لامل کېږي او تر هغې چې اجازه ورکړل شي، دوام مومي.

۳٤. له تعلیمي فرصتونو څخه په بې برخې کېدو سره ځوانې ښځې او نجونې د راتلونکي لپاره ډېر کم ليدلوري لري. اوس په ماشومتوب، له وخت مخکې او اجباري واده له ستر خطر، د اضطراب او ژور خپګان په شمول له فزيکي او ذهني روغتيايي مشکلاتو او د جنسيت پر اساس تبعيض سره مخ دي. په ماشومتوب کې او يا له وخت مخکې واده نه يوازې دا چې د دوی له جنسي او اميندواره کېدو حقونو څخه سرغړول دي، نجونې او ځوانې ښځې د له وخت وړاندې اميندواره کېدو او له امېندواره کېدو سره تړليو ستونزو په ډېرېدونکي خطر کې اچوي. له تعليم څخه د نجونو محروموول نه يوازې دا چې روان بشري کړکېچ تشديدوي، د افغانستان پر اوږدمهاله پرمختګ هم ژور منفي اغيز پرېباسي.

۳۵. پر نجونو او ځوانو ښځو د زده کړو له بنديزو سره هغوی د يو شمېر بديلو، نوښتګرو او ځيني وخت پټو لارو په لټه کې دي ترڅو خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. ځانګړي راپور ورکوونکي له يو شمېر ځوانو مېرمنو سره کتلي چې د ماسترۍ په شمول يې په آنلاين کلاسونو کې برخه اخېسته او د خپلو زده کړو د دوام لپاره يې آنلاين پلټفارمونه کارول. ځانګړی راپور ورکوونکی د دوی دا فداکاري او پشتکار ستايي خو زياتوي چې دا فرصتونه يوازې د هغو لپاره دي چې په مالي، ټکنالوجیک او د وسايلو له اړخه يې وس لري.

۳٦. په داسې حال کې چې ډېره پاملرنه له زده کړو څخه د نجونو او ښځو بې برخې کېدو طرف ته ده، هلکان او ځوانان هم د طالبانو د حکومت پر مهال زده کړو او بيا باکيفيته زده کړو ته د لاسرسي په برخه کې له يو کړکېچن وضعيت سره مخ دي. د هلکانو د ښوونځيو د ښځينه ښوونکو له شړل کېدو وروسته د هغوی پر ځای معمولاً بې وړتيا او يا د کمې وړتيا لرونکي نارينه ښوونکي ګمارل شوي او بدني سزا، چې د افغانستان په ښوونځيو کې له اوږدې مودې دود ستونزه ده، په ډېرېدونکې ډول عامه ده. پر دې سربېره، د اقتصادي ستونزو له امله ډېری هلکان زده کړې پرېږدي ترڅو کار پيدا کړي او کورنۍ وساتي.

۳۷. ځانګړی راپور ورکوونکی په افغانستان کې د مدرسه یي زده کړو د استفادې په برخه کې زياتوالي ته اشاره کوي. د جمهوریت پر مهال حکومت په دې لټه کې و چې ديني زده کړې معياري کړي او د سختدريځۍ مخه ډب کړي.

واک ته په رسېدو سره طالبانو په بشپړه توګه ديني زده کړو ته پراختيا ورکړې ده. د واکمنو د پوهنې وزارت په خبره د ۲۰۲۳م کال تر آګست پورې په ټول هېواد کې ۳۳۹۹۵۹ تنه زده کوونکي حکومت مدرسو ته شامل شوي چې ۹۵٦٦۲ تنه يې نجونې دي.

۳۸. په دې هکله چې په مدرسو کې هغوی ته څه ورښودل کېږي، اندېښنې موجودې دي. ځانګړی راپور ورکوونکی د هغو راپورونو په هکله اندېښنه څرګندوي چې ويل شوي له دغو مراکزو څخه د طالباني ايډيالوژۍ د ترويج په پار کار اخېستل کېږي چې د ښځو او نجونو پر وړاندې بنسټيز شوی تبعيض او سرکوب په کې شامل دی. د نورو برخو په شمول په دې بنسټونو هم څېړنه په کار ده چې دا کار تر کومه بريده کولی شي په افغانستان او د هغه له پولو ورهاخوا د بې ثباتۍ تخم وکري.

۳۹. له ښوونځي او لوړو زده کړو بې برخې شوې نجونې په ډېرېدونکي ډول مدرسو ته مخه کوي، چېرته چې زده کړې مختلطې دي. په دوی کې ځيني يواځې د زده کړو ابتدايي فرصتونه لري، په داسې حال کې چې نورې يې پرمختللي درسونه ښيي او د انګليسۍ او معلوماتي ټکنالوجۍ په څېر مضامين لري. ځانګړي استازي ټينګار کړی چې د مدرسو ديني زده کړې بايد يواځې د اساسي تعليم لپاره چې د انساني شخصيت بشپړه وده يې مقصد دی، يو بشپړونکی (مُکمِل) اوسي، نه يو بديل. 1

## C. اقليتونه

۴۰. افغانستان د کابو ۴۱ ميليون وګړو، چې مختلف نژادي، مذهبي او ژبنی شاليد لري، کور دی. دا شتمنه تنوع په دې معنا ده چې هېڅ ډله نشي کولای په يواځې ځان د افغانستان د استازيتوب ادعا وکړي او يا دا چې افغان توب څه ته وايي. 2

۴۱. له دې سره سره، طالبانو داسې يو دولت تحميل کړی چې نه ټولشموله دی او نه د ټولو خلکو استازيتوب کوي. په واکمنو او په تېره بيا په لوړه کچه کې تسلط د سني مذهبه پښتنو دی. په داسې حال کې چې طالبان ادعا کوي چې اتحاد ډېر شوی؛ خو غير طالب نژادي، مذهبي او ژبنۍ ډلې اوس هم له تبعيض، محروميت او منزوي کېدو سره مخ دي. د دې ډلو ښځې او نجونې د تبعيض له شديدو او بېلابېلو ډولونو سره مخ دي.

٤۲. د نژاد او دين پر اساس تبعيض موجود دی چې مخينه يې له اوسنيو واکمنو تېر وخت ته ورګرځي او د ځانګړو ډلو مخصوصاً د هزاره نژاد پر وړاندې د هغوی د نژاد او مذهب په سبب د سترو جرمونو د ارتکاب معتبر او اوږدمهاله تورونه موجود دي. ځانګړی راپور ورکوونکی په ژوره توګه د د اقليتونو او منزوي کړيو ټولنو پر وړاندې د تاوتريخوالي او ناسمې استفادې د روانو ډولونو په هکله اندېښمن دی نوموړی د پښتون ضد احساساتو د زياتېدو او د ټولنو ترمنځ د ننګونو او بې اعتبارۍ د زياتېدو له امله لا ډېر اندېښمن دی.

٤۳. ځانګړی راپور ورکوونکی د تبعيض په نه کولو او د اقليتونو د حقونو په ساتلو او وده باندې ټينګار کوي چې په دې حقونو کې د دوی مذهبي او د عقيدې آزادي او کلتوري حقونه شامل دي. نوموړی د طالبانو په دې کار خورا خواشينی دی چې دوی د دې حقونو تضعيفولو ته دوام ورکړی. د بېلګې په ډول دوی د مذهبي ورځو لمانځل بند کړي، له کتابتونونو يې د شيعه مذهب اړوند کتابونه لرې کړي او ازبيکي او ترکمني ژبو ته يې د علمي کتابونو په ژباړلو هم بنديز لګولی.

## د مذهبي اقليتونو پر وړاندې تاوتريخوالی او ګواښونه

٤٤. د شيعه مسلمانانو په شمول مذهبي اقليتونه، په تيره بيا شيعه هزاره ګان او صوفي ډلې، له روان تاوتريخوالي او ګواښونو سره مخ دي.

۴۵. شيعه ټولنې خصوصاً شيعه هزارګان د داعش خراسان څانګې (ISIL-KP) د بريدونو هدف دِي. د ۲۰۲۴م کال د جنوري مياشتې په ٦مه، په کابل کې هغه بس چې شيعه مذهبه هزارګان يې لېږدول پر هغه چاودېدونکو والوځول شو چې د داعش خراسان ډلې له لوري ځای پرځای شوي وو او په ترڅ کې يې ٦ ملکي کسان ووژل شول او ۲۰ کسان نور چې اکثريت يې نارينه وو، ټپيان شول. د داعش خراسان ډلې د دې بريد پړه ومنله او ادعا يې وکړه چې "کافران" يې هدف ګرځولي دي. د لومړۍ پېښې ځای ته څېرمه چاودېدونکو توکو په يو بل بس باندې چاودنه وکړه چې په

---

1 د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو نړيوال ميثاق، بند. ۱۳ (۱).

2 د "اقليتونو" اصطلاح کله کله په افغانستان کې د جر وبحث لامل کېږي. نو د دې راپور لپاره د هغه تعريف مطابق تعريف شوي دي چې ځانګړي راپور ورکوونکي د اقليتونو د موضوعاتو لپاره استعمال کړی ده (وګورئ A/75/211، ۲۰ بند).

پایله کې یې دوه تنه ووژل شول او ۱۳ نور (اته سړي، څلور ښځې او یو هلک) ټپیان شول. د رسنیو د راپور له مخې د داعش خراسان څانګې د دې برید مسئولیت هم منلی دی. دغې ډلې د شیعه مذهبو په عبادت ځایونو د خپلو بریدونو په دوام، د اپریل په ۲۹مه د دې ډلې یو وسله وال کس د هرات ولایت په صاحب الزمان جومات کې په عبادت کوونکو ډزې وکړې او په پایله کې یې شپږ کسان (څلور سړي، یوه ښځه او یو هلک) ووژل شول.

٤٦. د داعش خراسان ډلې د نورو مذهبي اقلیتونو په غړو هم د بریدونو مسئولیت منلی. د بېلګې په توګه، د مۍ میاشتې په ۱۷مه نېټه یوه وسله وال کس په بامیانو ولایت کې په یو مارکېټ کې په عیسویانو او شیعه ګانو ډزې وکړې او دوه افغانان او درې هسپانویان یې ووژل او شپږ نور یې ټپیان کړل. د واکمنو کسانو په وینا، اووه تنه د دې پېښې په تړاو نیول شوي دي.

٤٧. په مذهبي اقلیتونو د داعش خراسان څانګې بریدونو او له دغو اقلیتونو څخه په ساتنه کې د واکمنو ناکامۍ؛ ویره او بې اعتباري رامنځته کړې ده. لکه چې په تېرو راپورونو کې ویل شوي وو، هندوان او سکهان چې په تېر کې د دې ډلې د بریدونو هدف وګرځېدل، کابو ټول له افغانستانه وتلي دي. ځانګړی راپور ورکوونکی زیاتوي چې طالبانو یو کمیسیون جوړ کړی چې د تېر دولت پر مهال له هندوانو او سکهانو غصب شوي جایدادونه بېرته دوی ته وسپاري او هڅه کوي چې دغه اقلیتونو او ټولنې وهڅوي چې بېرته هېواد ته راستانه شي.

٤٨. د مذهبي اقلیتونو د غړو پر وړاندې تاوتریخوالی او ګواښونه له اوسنیو واکمنو څخه سرچېنه اخلي. ځانګړي راپور ورکوونکي هغه تاوتریخوالی ثبت کړی چې د واکمنې ډلې د امنیتي ځواکونو له لوري د ۲۰۲۴م کال په جولای میاشت او د محرم الحرام په لومړیو (د اسلامي کال لومړی میاشت) کې د د دوی له لوري د کورونو د خپلسري پلټنې پر مهال ترسره شوی و. وهل ټکول، د اموالو تخریب او په ځینو مواردو کې غیرقانوني وژنې په کې شاملې دي. په ځینو مواردو کې د کورونو د پلټنې پر مهال کلامي توهین هم کېده او سپکوونکي الفاظ کارېدل.

٤٩. د کورونو پلټل د عاشورا د ورځو په شدیدو امنیتي تدابیرو کې ترسره شول او د عاشورا پر مهال طالبانو شیعه مذهبو ته جدي لارښوونې صادرې کړې چې په عامه ځایونو کې د بیرغونونو، بنرونو او سیمبولنو د لګولو محدودیت او د عمومي غونډو نه ترسره کول په کې شامل وو. یاد محدودیتونه په دې توجیه شول چې امنیتي ستونزې موجودې دي.

٥٠. ځانګړي راپور ورکوونکي د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو څخه د ځمکو پر سر شخړو راپورونه ترلاسه کړي دي. له هغوی څخه ډېرو یې نژادي او قومي ابعاد او دغه راز سیاسي، اقتصادي او د اقلیم اړوند عناصر لرل. نوموړی په دې برخو کې د تاوتریخوالي په هکله اندېښمن دی او دا د واکمنې ډلې مسئولیت بولي چې د ګواښونو او تاوتریخوالي د تورونو په هکله دې پلټنه وکړي او ترسره کوونکي دې مجازات کړي.

د مذهبي اقلیتونو ټولنو له غړو سره په خبرو کې، ځانګړی راپور ورکوونکی د "کافر" کلمې مکررې استفادې ته متوجه شوی چې په ځانګړي ډول د اوسنیو چارواکو له لوري کارول شوې ده. دا کلمه په ځانګړي ډول هغه وخت ډېره کارول کېده چې څوک به په غیرطالباني فعالیتونو کې ښکېل و. یو شیعه مذهبه هزار سړی د دې الفاظو اغېز داسې بیانوي:

٥١. "هغوی راته وایي جې ’ته ناپاک یې او د دې هېواد نه یې.‘ په دې سره زما احساس دا وي چې په دې ټولنه او هېواد کې نور ځای نه لرو."

٥٢. ځانګړی راپور ورکوونکی اندېښمن دی چې د بیزاره کولو دا ډول ژبه او د هغې عادي کول د اغیزمنو شویو ټولنو د "بېزاره کولو" لامل کېږي چې پایله یې لا ډېر تبعیض او څنډې ته کول دي.

## D. جنسی تمایل او جنسیتي هویت

٥٣. لیزبین، همجنسګرا، دوه جنسګرا او او نور مختلف الجنسیته افغانان ( افغانان د خپل جنسي تمایل او جنسیتي هویت په وجه ځورول کېږي او د مجرم په توګه ورسره چلند کېږي. ځانګړي راپور ورکوونکي له لیزبین، همجنسګرا، دوه جنسګرا او او نور مختلف الجنسیته افغانانو سره لیدلي چې کله د طالب چارواکو له لوري نیول شوي؛ جنسي تاوتریخوالی ورسره شوی، شکنجه شوي او نور ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکي چلندونه ورسره شوي او سزاګانې یې لیدلي دي. هغوی دغه راز نوموړی د هغو راپورونو په هکله اندېښمن دی چې دا ډول کسانو ته په عام محضر کې جزا ورکړل شوې ده. د ۲۰۲۴م کال د آګست میاشتې په ۱۲مه د طالبانو سترې محکمې اعلان وکړل چې د وردګو ولایت په جلریز ولسوالۍ کې دوه کسان د لواطت په جرم په ۳۹ دُرو او ۱۳ کاله بند محکوم شول.

۵۴. لیزبین، دوه جنسګرا او انترسکس افغانان چې د ښځو په بڼه را څرګندېږي د اجباري واده او کورني تاوتريخوالي له ډېر خطر سره مخ دي. همجنسګرا او ترانس جيندر سړي په ځانګړي ډول د جرم انګارۍ (چې ګواکې جرم يې کړی) او عامه تاوتریخوالي او مشخصاً د ډُرو وهلو خطر سره مخ دي. ځانګړي راپور ورکوونکي دغه راز معلومات ترلاسه کړي چې ترانس جيندر ښځې د ګواښونو، تاوتريخوالي او ځورونې له کبله زده کړو ته په لاسرسي کې له ستونزو سره مخ دي. يو همجنسګرا کس وايي: "که هغوی ستاسو په جنسيتي هويت پوه شول او يا وليدل شي چې ستاسو جنسيتي هويت متفاوت دی، تاسو به هدف وګرځول شئ."

۵۵. ډېری لیزبین، همجنسګرا، دوه جنسګرا او او نور مختلف الجنسيته افغانان کافي ملاتړ او خدمتونو ته په لاسرسي کې له ستونځو سره مخ دي او د دوی له مشخصو غوښتنو او نادرې آسیب پذيرۍ لپاره متناسب پروګرامونه نشته. ياد وضعيت له تبعيض، ناسمې ګټې اخېستنې او د لا نور تاوتريخوالي له ګواښ سره نور هم شديد شوی دی. هغوی چې غواړي له هېواد څخه بهر لاړ شي، ملاتړ ته په لاسرسي کې له دوامدارو ستونزو سره مخ کېږي او دا ويره هم ورسره وي چې په کوربه هېوادونو کې به هم تبعيض او تاوتريخوالی ورسره وشي.

## E. معلولیت لرونکي کسان

۵۶. افغانستان د نړۍ يو له هغو هېوادونو څخه دی چې ډېر شمېر معلوليت لرونکي کسان لري. لسيزې جګړه او تاوتريخوالی د دې لامل شوی چې له يو ميليون څخه ډېر افغانان له يو ډول جسمي معلوليت سره ژوند وکړي چې د دوی تحرک، د سترګو نظر يا اورېدل يې اغېزمن کړي دي.

۵۷. معلوليت لرونکي د افغانستان د اقتصادي او بشري کړکېچ په وجه ډېر اغيزمن شوي دي چې دا کار د هغو نړېوالو او ملي سازمانونو په وتلو سره چې دوی ته يې د نورو خدمتونو ترڅنګ د توان ورکولو خدمات، مسلکي زده کړې، کاري فرصتونه، ټولنيز نوښتونه، د رهبرۍ زده کړه او کوچنی مالي تمويل وړاندې کاوه؛ زيات شوی دی. د معلولينو د حقونو يو شمېر فعالانو ځانګړي راپور ورکوونکي ته ويلي چې بشردوستانه مرستې په پوره ډول معلوليت لرونکو ته نه رسېږي. مطلب يې تر ډېره هغه معلوليت لرونکي دي چې په لرې پرتو او يا صعب العبوره سيمو کې اوسېږي او هغوی لا زيات زيانمنونکي ګرځي.

د طالبانو له لوري جنسيتي ځپل او ځورونه په دې معنا ده چې معلوليت لرونکې ښځې او نجونې د تبعيض له بېلابېلو او متقاطع ډولونو سره مخ دي او په دې سره دوی د تاوتريخوالي او ناوړه ګټنې له ستر خطر سره مخ دي. د ښځو په راوتلو او د کار په حق باندې شديد محدوديتونه نه يواځې دا چې په معلوليت لرونکو ښځو او ځوانو نجونو باندې ناوړه اغيز کوي، بلکې هغه ښځې چې له معوليت لرونکو هغو سره مرسته کوي، هم تر اغيز لاندې راولي. يوه ښځه داسې وايي:

۵۸. "ځان د افغانستان په يوه کليواله سيمه کې ښځه تصور کړئ چې يو معلول ماشوم لري. د هغې احساس به څه وي؟ ويره، پرېښودل او محروميت."

۵۹. د ټولنيز خونديتوب پروګرامونو ته لاسرسی له ننګونو ډک دی. ځيني معلوليت لرونکي افغانان راپور ورکوي چې دوی د طالبانو له واک ته رسيدو وروسته مالي ملاتړ نه دی ترلاسه کړی. هغوی چې دا ډول راپور ورکوي، ځيني وخت له تاوتريخوالي سره مخ کېږي. ځانګړی راپور ورکوونکی د واکمنې ډلې د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت په اړه هم اندېښمن دی چې په متناقض او مغرضانه ډول ارايه کېږي. نوموړي داسې راپورونه ترلاسه کړي چې له طالبانو سره تړلي معلول کسان د هغو معلولينو په پرتله چې طالبان نه دي او په جګړو کې معيوب شوي دي، دوه برابره مرسته ترلاسه کوي.

# IV. ملکي او سياسي حقونه

## A. د قانون حاکميت او د عدالت پلي کول

۶۰. قدرت ته له رسېدو سره سم طالبانو د افغانستان د ۲۰۰۴م کال اساسي قانون تعليق کړ او اعلان يې وکړ چې ټول هغه قوانين چې د اسلامي جمهوريت پر مهال تدوين شوي، له اسلامي شريعت او افغاني دودونو سره د مطابقت په موخه تر ارزونې لاندې نيول کېږي. تر نن ورځې پورې د قانون او نورو حقوقي سرچېنو په هکله لږ وضاحت شته، چې دا کار د ثبات او قانوني اطمينان د نشتون لامل ګرځېدلی دی. طالبانو د فرمانونو په صادرولو او د سپارښتنو په اساس حکومتولۍ ته دوام ورکړی، چې له اسلامي شريعت څخه د دوی د خپل تفسير په اساس جوړې شوې

دي. له دغو فرامينو او اوامرو څخه ډېری يې نه دي چاپ شوي او په شفاهي توګه دي او دا کار نوره حقوقي بې ثباتي رامنځته کوي. د حقوقي بې ثباتۍ د نشتون باوجود، د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد ټينګار کوي چې په هېواد کې هېڅ ډول حقوقي تشه نشته.

٦١. د امر بالمعروف او نهې عنې المنکر نوي قانون د خلکو د ژوندانه په عمومي او شخصي برخو د پام وړ محدوديتونه وضع کړي دي. په ښځو او نجونو باندې پخوانيو محدوديتونو د تاييد او پراخولو سربېره، ياد قانون د نارينه وو او هلکانو د کاليو او ظاهري صورت لپاره نوي قوانين وضع کړي؛ د بېلګې په توګه دوی ته د هغوی د ږيرې او وېښتانو اندازې په هکله امر شوی، د همجنسو تر منځ توافقي جنسي اړيکه جرم ګڼل شوی او له "غيرمومنو" سره له ملګرتيا او يا ورسره د مرستې کولو څخه منع راغلې ده. د دوی نور قوانين د مذهبي اقليتونو حقوق تر پښو لاندې کوي او د بيان پر آزادۍ شديد محدوديتونه لګوي چې په دې کار سره به د رسنيو آزادۍ مشخصاً په منفي توګه اغېزمنه شي. دوی دغه راز د "غيراسلامي" مناسبتونو په نمانځلو هم بنديز لګولی. ياد قانون د امر بالمعروف کسانو ته لا پراخ او زيات واک ورکوي او خلک هڅوي چې د هغه له تطبيق سره همکاري وکړي. د قانون له مخې، د هغه احکام د افغانستان په جغرافيه کې دننه په ټولو بنسټونو، عامه ځايونو او هغوی چې په کې اوسېږي، پلي کېږي. په دې کار سره په هېواد کې د ملګرو ملتونو او بشردوستانو سازمانونو د فعاليتونو په برخ کې جدي اندېښنې رامنځته کېږي.

٦٢. محاکم هم له کومو منظمو کړنلارو او ځرګندو حقوقي صلاحيتونو پرته کار کوي. د جمهوريت د دورې قاضيان په سيستماتيک ډول لرې شوي دي او د طالبانو غړو يې ځای نيولی چې د هغوی مفتيانو له لوري ورته سپارښتنې کېږي چې کافي حقوقي روزنه يې نه ده لېدلې. دوی ټول نارينه دي. طالبان ادعا کوي چې د دوی قاضيان په ژوره توګه په اسلامي شريعت پوهېږي او په عربي ژبه کې ماهر دي، خو کوم وکيلان چې هلته دندې لري وايي چې کيسه داسې نه ده. وکيلانو ځانګړي راپور ورکوونکي ته ويلي چې دا قاضيان ډېر کله په داسې منابعو استناد کوي چې په ملي ژبو پښتو او دري نه پيدا کېږي. په دې کار سره حقوقي کسان او عام خلک چې په عربي ژبه بلد نه دي، نشي کولای په اصلي مقصد او د قانون په معنا پوه شي. په دې کار سره د وضاحت نشتون رامنځته کېږي او قانون په خپلسري توګه پلی کېږي.

٦٣. د طالبانو د عدليې وزارت، مدافع وکيلانو ته د جوازونو د بياځلي صدور پروسه پيل کړې ده او د ۲۰۲۱م کال له آګست مياشتې يې تر ۱۴۳۰ جوازونه صادر کړي دي، چې ټول يې نارينه و ته وو. د درېيم پرلپسې کال لپاره ښځې د وکالت آزموينې له ورکولو څخه منع شوې او ښځينه قاضيانې او مدافع وکيلانې له وکالت څخه محرومې دي. په دې ډول شرايطو کې عدالت ته د نجونو د لاسرسي چاره لا ډېره تضعيف شوې ده.

٦٤. مدافع وکيلانو ته د جوازونو د بياځلي صدور له هڅو سره سره، ځانګړي راپور ورکوونکي ته د مدافع وکيلانو د کمښت راپورونه رسېدلي. دا چاره بالخصوص په هغو قضيو کې چې حقوقي مرستې ته اړتيا وي، ډېره جوته ده. د حقوقي مرستې وړاندې کوونکي سازمانونه د خپلو جوازونو په نوي کولو کې له ستونزو سره مخ شوي او ځينو ته يې ګواښ شوی چې خپل فعاليتونه ودروي. ډېرې قضيې او د مدافع وکيلانو کمښت د دې لامل شوی چې تورن کسان له محکمه کېدو وړاندې اوږده موده په زندان کې پاتې شي.

٦٥. د ۲۰۲۴م کال په اپريل مياشت کې ستري محکمې په يوه خبرپاڼه کې وويل چې مدافع وکيلان دې د هرې قضيې پر سر يواځې ۵۰۰۰ افغانۍ (۷۰ امريکايي ډالر) واخلي. کوم مدافع وکيلان چې له دې مبلغ څخه زياتې پيسې واخلي، جواز يې باطل اعلانېږي. که څه هم دا امر د هغو کسانو لپاره چې کمزوری ټولنيز-اقتصادي شاليد لري ښه دی، خو د مدني ټولنو ډلو اندېښنه ښودلې چې په دې سره به ښايي وکيلان سياسي او نورو حساسو قضيو ته د رسيدګۍ لېوالتيا ونه لري.

٦٦. د ۲۰۲۴م کال په جنوري مياشت کې د طالبانو ستري محکمې د هغو فاميلي قضيو په برخه کې خبرپاڼه خپره کړه چې د جمهوريت په دوره کې ورته رسيده ګي شوې وه. د دې خپرپاڼې پر بنسټ د طلاق يا له خپل مېړه يا ښځې څخه د جلا کېدو قضيې هغه وخت د منلو دي چې د ځلورګونوسني فقهوڅخه حداقل له يوې سره سمې وي. له افرادو څخه غوښتل کېږي چې د محکمې رسمي سند دي راوړي، چې ډېر يې په دې کار کې ناتوانه دي. هغه طلاقونه او قانوني جلاوالي چې مطابقت ونه لري باطل اعلانېږي او په نتيجه کې يې ځيني ښځې مجبورېږي چې خطرناکو شرايطو ته دې ستنې شي. د مذهبي اقليتونو ښځې په نامتناسب ډول اغيزمنې شوې دي چې په دې کسانو کې شيعه مسلمانان هم شامل دي چې جعفري فقه لرې شوې او په قضاياوو کې پرې استناد نه کېږي.

## B. د يو شخص د ژوند کولو، آزادۍ او امنيت له حقونو څخه سرغړونه

۶۷. اوسني واکمن غيرقانوني او له محکمې پرته وژنو ته دوام ورکوي. د طالبانو له لوري د ۲۰۲۱م کال په آګست مياشت کې د عمومي عفوې له اعلانولو وروسته لا هم د پخواني دولت چارواکي او د امنيتي ځواکونو غړي د راپور جوړونې په دوره کې په دوامداره ډول هدف ګرځول شوي. پر دې سربېره د ملي مقاومت جبهې او داعش خراسان ډلې د غړو د وژنې په هکله هم مداوم او معتبر راپورونه شته.

واکمن چارواکي په خپلسرو نيولو او بندي کولو سره د خپلو مخالفانو ځپلو ته دوام ورکوي. ځانګړي راپور ورکوونکي ته د خبريالانو، د بشر حقونو مدافعينو او طالبانو د نورو منتقدينو د نيولو او بندي کولو د تورونو په هکله راپورونه رسېدلي دي. ځيني وختونه يو کس له جبري ورکېدو وروسته بندي شوی. مداوم او ځورونکي راپورونه شته چې طالب چارواکي او په مشخص ډول د دوی د استخباراتو عمومي رياست او پوليس د نيول کېدو، بندي توب او پلټنې پر مهال کسان شکنجه کوي او ناسم چلند ورسره کوي. د رسنيو يو کارمند چې د ۲۰۲۴م کال په لومړيو کې پر طالبانو باندې د نيوکې په تور د دوی د استخباراتو لوی رياست له لوري نيول شوی و، خپله کيسه داسې کوي:

۶۸. "هغوی راته سترګې وتړلې او لاسونه يې هم راوتړل، په موټر کې يې کېنولم او په يوه تپه توره کوټه کې يې بندي کړم. زه فزيکي شکنجه شوم جنسي تاوتريخوالی راسره وشو، ووهل شوم او په وسلې يې وګواښلم."

۶۹. دا وضعيت د قانوني تدابيرو د کموالي (لکه مدافع وکيل ته نه لاسرسی او نورو حقونو ته نه پاملرنه) له امله لا شديد شوی دی. معتبر راپورونه موجود دي چې په څو ولايتونو کې يې د ماشومانو په ګډون تورن کسان د مدافع وکيل د لرلو له حق څخه بې برخې کړي دي.

۷۰. طالبانو په عام محضر کې د سزا ورکولو کار ته دوام ورکړی چې شکنجه کول او نور بد چلند په کې شامل دی. د ۲۰۲۴م کال له پيل وروسته ښکاري چې د حدودو، قصاص او تعزير جرمونو ته د جزا ورکولو په شمېر کې ځورونکی زياتوالی راغلی دی. د طالبانو د سترې محکمې د رسمي اعلان مطابق، د ۲۰۲۴م کال د جنوري او آګست مياشتو ترمنځ تر ۲۷۶ پورې کسان (۲۳۰ سړي او ۴٦ ښځې) د داسې جرمونو په وجه مجازات شوې وې. په داسې حال کې چې ۸۰ رسمي خبرپاڼې چې د جرمونو په اړه خپرې شوي، د غلا او زنا په هکله وې. خو نور کسان بيا د نورو "جرمونو" لکه بچه بازۍ، همجنسګرايۍ، له کور څخه تښتېدلو او له کور څخه په تښتېدلو کې له ښځې سره د مرستې له امله مجازات شوِي دي. دا چاره په هغو خطراتو لا ډېر ټينګار دی چې ليزبين، همجنسګرا، دوه جنسګرا او او نور مختلف الجنسيته کسان او (Cisgender) ښځې ورسره مخ دي.

۷۱. له هغه وروسته چې د طالبانو رهبر په عام محضر کې د هغو ښځو په ګډون چې په زنا تورنې دي، د دُرو وهلو او سنګسارولو مجازاتو د پلي کولو لپاره د دې ډلې ژمنتيا تاييد کړه؛ د مۍ او جون مياشتو ترمنځ د دې مجازاتو په شمېر کې د پام وړ زياتوالی راغئ. د ۲۰۲۴م کال د جون مياشتې په ۴مه طالبانو په سرپل ولايت کې ٦۳ کسان (۴۸ ښځې او ۱۵ سړي) په عام محضر کې په دُرو ووهل. هر کس ته د ۱۵ او ۳۹ دُرو ګوزارونه ورکړل شول.

## B. د بيان آزادۍ، ټولنو جوړولو او سولييزو راټولېدنو له حقونو څخه سرغړونه

۷۲. د راپور جوړولو په دوران کې د بيان آزادۍ، ټولنو (انجمنونو) د جوړولو او سولييزو راټولېدونو ساحه نوره هم را تنګه شوې ده. د بشر حقونو مدافعين، مدافع وکيلان، خبريالان او د مدني ټولنو غړي د خپل کار له امله له دوامدارو ګواښونو، وېرې او د نيولو او بندي کېدو په شمول له ځورونې سره مخ دي. سيمه ييز نادولتي سازمانونه او د مدني ټولنو ډلې د جواز د لغوه کېدو او نه نوي کېدو په شمول له يو لړ ننګونو سره لاس او ګرېوان دي. ځانګړی راپور ورکوونکی د هغو معلومات له امله ډېر خواشينی دی چې د ۲۰۲۴م کال په آګست مياشت کې د واکمنو د اقتصاد وزارت ځينو دا ډول سازمانونو ته د جوازونو له ورکړې څخه ډه ډه کړې او ورته يې ويلي چې تر هغې به ورته جواز ور نه کړي چې دوی له خپل نوم څخه د "ښځو"، "ديموکراسۍ" او "عدالت" کلمې لرې نه کړي او مالي جريمه پرې نه کړي.

۷۳. خبريالان او د رسنيو کارکوونکي د ګواښونو، ځورونې، وېرې او نيول کېدو سربېره په يو له ننګونو ډک چاپېريال کې کار کوي او د واکمنو له لوري له وضع شويو سختو محدوديتونو سره لاس او ګرېوان دي. خبريالان ډېر کله په دې بنديان کېږي چې ګواکې دوی له بهرنيو رسنيو سره په ارتباط کې دي او يا د واکمنو پر ضد او له هغوی په انتقاد معلومات خپروي. له دې جملې هغه خبريالان چې د ښځو د حقونو او د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي په شمول په حساسو موضوعاتو راپورونه جوړوي، په ځانګړي ډول په خطر کې دي. دا چې طالبانو د ښځو د راوتلو

او کار په برخه کې بندیزونه او محدودیت لګولی، نو ښځینه خبریالانې د نارینه همغو په پرتله په لا بد وضعیت کې دي.

رسنیو کارکوونکو د دوی له کارونو د جدي څارنې او دوی ته د کېدونکو شفاهي ګواښونو خبره کوي تر څو دوی له کارکولو منع کړي. دا ډول ګواښونه او د نیول کېدو خطر د ځاني سانسور کولو (Self-censorship) ښکاره محرکات دي او په سرې کې د نا امنۍ احساس رامنځته کوي. یوه ښځینه خبریاله وایي:

۷۴. "دوی غواړي ما خاموشه کړي. دوی خلک له خبرو کولو منع کوي، په ځانګړي ډول همغه خبریالان چې د ښځو د حقونو په هکله راپورونه جوړوي."

۷۵. د امنیت او خوندیتوب په هکله اندېښنې یواځې په خبریالانو پورې محدودې نه دي، د دوی تر سرچېنو او همغو کسانو چې مرکې ورسره کوي هم رسېدلي دي. ځانګړي راپور ورکوونکي د اندیښنې وړ راپورونه ترلاسه کړي چې قربانیان او د دوی خپلوان د بشري حقونو څخه د سرغړونو په اړه رسنیو سره د خبرو کولو وروسته د ګواښونو، څارنې او په ځینو مواردو کې له توقیف سره مخ شوي.

۷۶. د خبریالانو د ګواښلو، ډارولو او نیولو چاره د بیان او رسنیو آزادۍ د سرکوبولو د زیاتوالي په پراخه محدوده کې ترسره کېږي، لکه د رسنیو بندېدل او سانسور کول. د ۲۰۲۴م کال د مۍ په ۸مه، د رسنیزو شکایتونو او سرغړونو کمیسیون په لویه بریتانیا او شمالي ایرلنډ کې مېشت خبري ټلویزیونی چینل، افغانستان انټرنیشنل، کې د افغان خبریالانو په کار بندیز ولګاوه. دغه راز طالب چارواکو په عامه ځایونو کې د دې چینل په ښودلو بندیز لګولی او خبریالانو او کارپوهانو ته یې ګواښ کړی چې له دې رسنۍ سره به همکاري نه کوي. له دې یو میاشت مخکې او په اپریل میاشت کې د دوه نورو ټلویزیوني چینلونو، نور او بریا، فعالیت هم وځنډول شو او وویل شول چې مالکانو یې په مکرر ډول له ملي او اسلامي ارزښتونو څخه سرغړونه کړې ده. د کمیسیون یو ویاند وویل چې دواړه چینلونه تر هغې چې پلټنې بشپړېږي، د فعالیت حق نه لري.

۷۷. طالبان چاپي خپرونې هم سانسوروي او متنوع مفکورو ته په لاسرسي او د هغوی په خپرولو محدودیت لګېدلی دی. په جنوري کې، واکمنو په کابل کې له کتابتونونو او چاپخونو هغه زرګونه کتابونه ضبط کړل چې د دوی په وینا له "ملي او اسلامي ارزښتونو څخه د سرغړونې" او د افغانانو ترمنځ د یووالي د له منځه وړلو له امله یې ورباندې بندیز لګولی. له دې کتابونو څخه ډېری یې د افغان لیکوالانو له لوري په پښتو او دري ژبو لیکل شوي او ترجمه شوي وو او تر ډېره په طالبانو متمرکز وو. دولتي او شخصي کتابتونونه پلټل کېږي ترڅو ولېدل شي چې بند کړل شوي کتابونه خو به نه لري. ځانګړي راپور ورکوونکي ته راپورونه رسېدلي چې طالبانو له چاپخونو څخه لیکلي تعهدات اخېستي چې د دوی د پالیسیو خلاف مواد به نه تولیدوي.

۷۸. د سولییزو راټولېدنو د آزادۍ حق هم تر ډېره محدود کړل شوی دی. ښځو د دوی په ژوند او حقونو باندې د طالبانو له لوري په لګول شویو محدودیتونو اعتراض ته دوام ورکړی دی. دوی دا کار د بندو دروازو تر شاه کوي ترڅو د تاوتریخوالي او ځپلو له خطر څخه مخنیوی وکړي. د ۲۰۲۴م کال په مارچ کې د ښځو ورځې په مناسبت دوی په شخصي ځایونو کې یو لړ غونډې جوړې کړې او د "حقونو، عدالت او آزادۍ" په څېر شعارونه یې لېږدل. د ۲۰۲۴م کال په آګست میاشت کې چې په افغانستان د طالبانو د واکمنېدو درېیمې کلیزې ته یواځې څو ورځې پاتې وې، په تخار ولایت کې ښځې کوڅو ته راووتې ترڅو طالبانو پر پالیسیو اعتراض وکړي.

۷۹. په یو خوشالوونکي اقدام کې، د ۲۰۲۴م کال د اپریل په ۷مه، د بشر حقونو مدافع او معترضه، منیژه صدیقي، د ښځو د حقونو د دفاع له امله له شپږ میاشتنۍ ظالمانه نیونې او بند وروسته آزاده شوه. دغه راز په همدې میاشت کې، ښاغلی صدیق الله افغان هم چې د خپل کار له امله د ۲۰۲۳م کال په اکتوبر کې په ظالمانه ډول نیول شوی و، را خلاص شو؛ خو همکار یې، ښاغلی احمد فهیم عظیمي لا په زندان کې دی او د یو کلن بند سزا ورته اورول شوې. ځانګړی راپور ورکوونکی د هغه د فوري او بې له قید او شرطه خلاصون غوښتنه کوي.

۸۰. د معترضینو پر وړاندې هم د له تاوتریخوالي ډک سرکوب او ځپلو ځوروونکي راپورونه شته. په مۍ او جولای میاشتو کې په بدخشان ولایت کې هغه وخت اعتراضات پیل شول چې اوسنیو چارواکو د فصلونو په خرابولو لاس پورې کړ. معترضینو طالب چارواکي په دې تورن کړي چې د فصلونو د اړولو پر مهال یې هم خلک ځورولي او وهلي دي. د مۍ میاشتې په لومړیو کې، د معترضینو او امنیتي خواکونو ترمنځ د نښتې په پایله کې چې په درایم او ارګو ولسوالیو کې وشوې، دوه تنه ووژل شول. چارواکو د پلټنې د کمېټې د جوړولو خبر ورکړ تر څو پېښه وڅېړي، خو تر اوسه په دې برخه کې کوم پرمختګ نه دی ترسترګو شوی.

## V. اقتصادي او ټولنيزو حقونه او بشري وضعيت

۸۱. ژورېدونکي اقتصادي او بشري کړکېچ د افغانستان هره برخه نیولې ده چې خرابېدونکی اقتصادي وضعیت، د بشري مرستو کمېدل، د روانو او پخوانیو جګړو دوامداره اغېزې او اقلیمي کړکېچونه يې لاملونه دي. دا کړکېچونه د جنسيتي سرکوب په برخه کې د طالبانو له بنسټيزو شويو او سيستماتيکو پالیسیو سره تړلي او له امله يې شدید شوي دي.

### A. بې وزلي، بې کاري او د کار کولو حق

۸۲. د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ په مالي کلونو کې واقعي داخلي ناخالص تولید %۲٦ کم شوی. په ۲۰۲۳ کې اقتصادي فعالیتونه په ټپه ولاړ دي او د کارپوهانو په باور، یاد وضعیت په لنډمهال کې نه شي ښه کېدلای. د نفوس زیاتوالی دا معنا لري چې د سړي سر عاید را وغورځي او د بې وزلۍ په کموالي، غذايي ناخوندیتوب او بې کارۍ کې به هم کوم بهبود رانشي.

۸۳. د بودیجې او لګښتونو په برخه کې هم روڼتیا نشته. اوسنیو چارواکو د ۲۰۲۳ لګښتونه نه دي اعلان کړي او نه یې د ۲۰۲۴-۲۵ کال بودیجې په هکله معلومات ورکړي دي. د نړیوال بانک په وینا، په ۲۰۲۲ کال کې اوسنیو چارواکو د خپلې بودیجې نیمايي هغه يې امنيتي لګښتونو ته ځانګړې کړې وه. غير رسمي سرچېنې وايي چې په ۲۰۲۳ کال کې هم همدومره بودیجه امنیت ته ځانګړې شوې وه.

۸۴. ځانګړی راپور ورکوونکی اوسنیو واکمنو ته خپل مکلفیتونه وریادوي چې حد اکثر ته د خپلو اوسنیو سرچېنو د رسولو لپاره "ګامونه واخلي" او د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو بشپړ تحقق تدریجاً ترلاسه شي. واکمن چارواکي اړ دي چې د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو هغه حد اقل اساسي کچې پوره کړي.

۸۵. د ۲۰۲۲م کال په اپریل کې، اوسنيو واکمنو د کوکنارو په کرکېله، تولید، پروسس او تجارت بندیز ولګاوه. له هغه وخت راهیسې، امنيتي ځواکونه د کوکنارو له کرلو څخه د کروندګرو د مخنیوي او د فصلونو د له منځه وړلو په یو جدي کمپاین بوخت دي. پایله دا شوه چې د کوکنارو په کرکېله کې د پام وړ کموالی راغی. د د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو اداری په اټکل، دا کرکېله په ۲۰۲۳م کال کې تر ۹۵٪ پورې را ولوېده. خو بدخشان ولایت په دې برخ کې یوه د پام وړ استثنا ده. اټکل دا دی چې یاد کموالی به په ۲۰۲۴م کې هم دوام مومي. په ورته وخت کې، د نورو غیرقانوني مخدره توکو، لکه میتامفیتامینو، تولید لا هم دوام لري.

۸٦. په داسې حال کې چې د کوکنارو په کرکېله کې کموالی مثبت پرمختګ دی، خو دا بندیز د کوکنارو په وړو بزګرانو او کلیوالو کورنیو باندې چې د ژوند چلولو لپاره بدیلې لارې نه لري، ستر او پراخ اغېز لری. له دې سره په خوا کې، د ذخیره شویو نشه یي توکو په هکله چې له بندیز سره يې ارزښت څو چنده شوی، هېڅ کوم اقدام نه دی شوی. په پایله کې ځمکوال او تجاران، د طالب چارواکو په ګډون، چې د کوکنارو ذخېرې لري، له ډېرې سرمایې څخه خوند اخلي، په داسې حال کې چې واړه بزګران له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دي. لکه چې پورته يې یادونه وشوه، د کوکنارو د تولید بندیز او له هغه سره تړلی اقتصادي اغېز د دې لامل شوی چې په ځینو سیمو کې يې بزګران او د ځمکو کارګران پر وړاندې مقاومت وکړي.

۸۷. د ښځو د کار کولو حق خورا محدود پاتې شوی دی او چارواکو محدودیتونه ټاکلي چې په کومو ساحو کې ښځې کار کولای شي او څه ډول کار کولای شي. د هغو محدودیتونو په لېست سربېره چې د ښځو د کار په برخه کې لګېدلي، طالبانو د ۲۰۲۳م کال په اکتوبر کې ښځې له دې منع کړې چې په غیر دولتي سازمانونو کې دې په مدیریتي بستونو کار وکړي. د ۲۰۲۴م کال په مۍ کې یې د ښځينه دولتي کارکوونکو معاش، چې مجبورې کړل شوي تر څو له کوره کار وکړي، ۵۰۰۰ افغانیو (کابو ۷۰ امریکايي ډالر) ته راښکته کړ، پرته له دې چې د دوی وړتیاوې او تجربه په پام کې ونیول شي. د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرامپه خبره، په ۲۰۲۳م کال کې د ښځينه کارکوونکو سلنه له ۱۱ څخه ٦ ته را ښکته شوې. د ښځو له عوایدو پرته، کورنۍ د لا نور ژور فقر ته د غورځېدو له خطر سره مخې دي.

۸۸. که څه هم چې طالبانو ښځو ته په خصوصي سکټور کې د کار کولو اجازه ورکړې، خو ښځينه متشبثينې او د دوی له لوري کنټرولېدونکي تجارتونه له ستونزو سره مخ دي او دوی نه شي کولای په تجارت کې ښکېلې شي، عامه ځایونو او مارکېټونو ته لاسرسی نه لري او د محرم شتون یوه بېله ستونزه ده. سیستماتیک جنسیتي ظلم په دې معنا دی چې عرضه کوونکي، دکانداران، ستر سوداګر او عمده فروشان نه غواړي له ښځو سره تعامل او تجارت ته زړه ښه کوي، ځکه وېرېږي چې طالبان به ورته سزا ورکړي.

۸۹. سره له دې چې د ښځینه متشبثینو او سوداګرو د ملاتړ لپاره نړیوالې هڅې، لکه د کوچني مالي تمویل طرحې، ترسره شوي؛ خو ښځې دې هرڅه ته د لاسرسي لپاره له ستونزو سره مخ دي. د اسنادو د شرایطو پوره کول لکه د راجستر کولو شرایط، د جنسیت په وجه د تلو راتلو یا تحرک محدودیتونه او د شریعت مطابق مالي محصولاتو نشتون په دې ننګونو کې شامل دي.

۹۰. ځانګړی راپور ورکوونکي په دې ټینګار کوي چې د هېواد د اقتصادي بهبود لپاره هغه کېدونکې مرستې چې سیستماتیک او بنسټیز شوي جنسیتي تبعیض ته رسیدګي ونه کړي، په اوږدمهال کې به ګټې ښکاري.

۹۱. د شدېدې او زیاتېدونکې بې وزلۍ او زیاتېدونکو انساني اړتیاوو په مقابل کې ټولنې اړې شي او د منفي ستراتیژیو په کارولو سره یې مخه ډب کول غواړي. په دې کې د پیسو پورول، د شتمنیو خرڅول او د خوراکي لګښت کمول شامل دي. ځانګړی راپور ورکوونکی په ځانګړي ډول په ماشومانو باندې د دې مواردو اغېزې ته اندېښمن دی. د دې لاملونو په وجه په ماشومتوب یا کم سن کې د وادونو په هکله دوامدار راپورونه را رسېږي، په ځانګړې توګه د نجونو اجباري ودونه، په ماشومانو کار کول، په کورونو کې اجباري کار کول، قاچاق او جنسي ګټه اخېستنه.

۹۲. د ډېرو زیانمنوونکو او هغو لپاره چې په ځانګړي ډول په خطر کې دي، د ټولنیز خوندیتوب د میکانیزمونو موجودیت حتمي دی. په دې هکله ځانګړی راپور ورکوونکی خورا اندېښمن دی چې د ملکي خدماتو د متقاعدینو په شمول زاړو خلکو د د ۲۰۲۱م کال د آګست له میاشتې د تقاعد پیسې نه دي ترلاسه کړي. د طالبانو له واک ته رسېدو وړاندې کابو ۱۵۰۰۰۰ کسانو د تقاعد میاشتنۍ پیسې ترلاسه کولې. د ۲۰۲۴م کال په اپریل میاشت کې د طالبانو د مشر له یو فرمان وروسته د واکمنو د مالیې وزارت اعلان وکړل چې د تقاعد دولتي سیستم ختم شوی. تر اوسه څرګنده نه ده چې متقاعدینو ته به، که وي، څه ډول مرستې یا ملاتړ وړاندې کېږي.

۹۳. اوسني کړکېچن اقتصادي او بشري وضعیت ته په پام، ځانګړی راپور ورکوونکی د مرستې د داسې میکانیزمونو غوښتنه کوي چې له بشري مرستو زیات او ورهاخوا وي او په داسې بڼه وي چې ګټه یې واکمنو ته ونه رسېږي. د تمویل یوه سرچېنه چې کمه کارول شوې د افغانانو صندوق دی چې پانګه یې کابو ۳.۵ میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسېږي. له دې سره په خوا کې هغه ۳.۵ میلیارد امریکایي ډالر هم د یادونې وړ دي چې د امریکا په متحده ایالاتو کې د داخلي قانوني ننګونو له امله بند دي. په افغانستان کې د بشري او اقتصادي کړکېچونو په وجه د شدیدو اغېزو د رسیدګي لپاره د پوټانشیل د شتون سره سره، دې صندوق لا تر اوسه د افغانانو د هوساینې او ګټې لپاره کوم مبلغ نه دی ځانګړی کړی. د افغانستان بانک نه خپلواکي، او د پیسو مینځلو او د تروریزم د تمویلولو ضد اقداماتو کمزورۍ د هغو دلایلو له جملې ښودل شوي دي چې د دې پیسو وېش یې ځنډولی دی.

۹٤. ځانګړی راپور ورکوونکی د ملګرو ملتونو امنیت شورا له لوري د طالبانو پر غړو او له دوی سره تړلو شخصیتونو باندې لګول شویو دوامدارو بندیزونو څخه ملاتړ کوي. په دې هم خوشحاله دی چې د امنیت شورا په ۲٦٦٤ (۲۰۲۲) پرېکړه لیک کې یوه مهمه استثنا راغلې ده او هغو بشردوستانه مرستو او نورو فعالیتونو ته چې د انسان اساسي اړتیاوو ته ځواب وایي، اجازه ورکړل شوې ده. نوموړی له هغو رژیمونو سره چې بندیزونه وربانديې لګول شوي د ډېر زیات تطابق او تبعیت په خطر ټینګار کوي او وایي چې دا ډول رژیمونه نه باید د خپلو ملکي وګړو لپاره ناوړه ټولنیز-اقتصادي پایلې منځته راوړي.

۹۵. ځانګړی راپور ورکوونکی په داسې حال کې چې د افغانستان د خلکو لپاره له ټولنیز-اقتصادي پرمختګ څخه ملاتړ کوي، خو وایي چې دا کار باید د بشر حقونو له لحاظه په مسئولانه توګه ترسره شي. دا چې طالبان په پرلپسې ډول د بهرنیو پانګونو او د تجارت د زیاتولو په لټه کې دي، ډېره مهمه ده چې تجارتونه او سوداګر د سوداګریزو او بشر حقونو په برخه کې لارښود اصول پلي کړي. شرکتونه مکلف دي چې له واکمنو سره له تعامل وړاندې د بشر حقونو په برخه کې د ارزونو په ترسره کولو سره د له ناوړه اغېزو څخه مخنیوی وکړي.

## c. بې ځایه کېدل، طبیعي آفتونه او چاپېریال

۹٦. که څه هم چې د جګړې له امله د خلکو بې ځایه کېدل له ۲۰۲۱م کال راهیسي د پام وړ کم شوي، خو تر ۳.۲ میلیونو پورې افغانانو لا هم په داخلي توګه بې ځایه دي. له دې سره په یو وخت کې، تر ۵.۸ میلیونو پورې افغانان په ګاونډیو هېوادونو او په ځانګړي ډول ایران او پاکستان او تر یو بریده په تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او ترکیه کې د کډوالو په توګه ثبت دي.

۹۷. د ۲۰۲۳م کال له سپټمبر میاشتې راهیسي افغانستان ته د ستنېدونکو کډوالو په شمېر کې زیاتوالی راغلی. د ۲۰۲۳م کال د سپټمبر او د ۲۰۲۴م کال د جولای میاشتو ترمنځ له هغه وروسته چې پاکستان "د غیرقانوني بهرنیو اتباعو د ستنولو طرحه" پلې کول پیل کړل، له ٦۴۵۰۰۰ څخه زیات خلک له دې ګاونډي هېواد څخه افغانستان ته ستانه شوي

دي. د دې طرحې له مخې، هغو بهرنیو اتباعو ته چې په پاکستان کې د پاتې کېدو لپاره معتبر اسناد نه لري، چې زیاتره یې افغانان دي، ۲۸ ورځې مهلت ورکړل شو چې په خپله خوښه له دې هېواد څخه ووځي، کنه په زور به و اېستل شي. ځانګړی راپور ورکوونکی د پاکستاني دولت له هغې پرېکړې خوشحاله دی چې د کډوالو د کارتونو د اعتبار موده یې د ۲۰۲۵م کال د جون تر ۳۰مې وغځوله. د ایران لوړ پوړو چارواکو هم اعلان وکړ چې غیرقانوني بهرنیان باید د ۲۰۲۴م کال تر وروستیو پورې له دې هېواد څخه ووځي، چې دا تصمیم یې تر ډېره بریده افغانان اغېزمنوي. ځانګړی راپور ورکوونکی غواړي ټولو دولتونو ته ور یاده کړي چې د دودیزو نړېوالو اصولو او قانون له مخې د نه ردولو/ستنولو اصل ته درناوي وکړي.

۹۸. کوم خلک چې افغانستان ته راستنېږي؛ له ګڼو ننګونو سره مخ کېږي: لکه د سرپناه او کورونو نشتون، د ژوند چلولو کم فرصتونه او د زده کړو او روغتیا ساتنې په شان اساسي خدمتونو ته محدود لاسرسی. خو په ورته وخت کې، ځانګړی استازی د طالب چارواکو هغه هڅې چې د نړېوالو بشردوستانه سازمانونو په مرسته یې کوي، تصدیقوي. د دې هڅو موخه له هغه کسانو سره چې په ستونزمنو شرایطو کې له پاکستان څخه افغانستان ته ستنېږي، مرسته کول دي.

۹۹. له استوګنځایونو څخه د خلکو په زور اېستلو په هکله مکرر راپورونه ورکول کېږي چې په دې سره بې ځایه کېدل نور هم زیاتېږي. ځانګړي راپور ورکوونکي موثق معلومات ترلاسه کړي چې د ۲۰۲۴م کال د جنوري او جون میاشتو ترمنځ په کابل کې استوګنیز او تجارتي ځایونه تخریب او ویجاړ کړل شوي او ویل کېږي چې استوګن کسان یې له خپلو ځمکو اېستل شوي دي. معلومېږي چې د ویجاړولو په دې پروسه کې تر ډېره غیر رسمي استوګن ځایونه هدف ګرځول شوي چې په اوسېدونکو کې یې زیانمنېدونکي کورني هم وې، کومې چې وار له مخه بې ځایه شوې وې. لا څرګنده نه ده چې دا ډول کورنیو ته کومه مرسته او یا تاوان ورکول کېږي، کنه.

۱۰۰. ځانګړی راپور ورکوونکی دغه راز د طبیعي آفتونو د اقتصادي او بشري اغېزو په هکله اندېښنه ښیي. افغانستان ډېر کله د زلزلې او توپانونو په ګډون له طبیعي آفتونو سره مخ کېږي چې د خلکو د بې ځایه کېدو، د کورونو او جایدادونو وېجاړېدو او د طبیعي چاپېریال د خرابېدو سبب ګرځي. په مۍ میاشت کې د سختونو بارانونو له امله یو توپان په بدخشان، بغلان، فاریاب، غور او تخار ولایتونو کې پراخه ویجاړي رامنځته او د ګڼ شمېر خلکو د مرګ او بې ځایه کېدو لامل شو. د مهم زیربناوو سربېره په زرګونو کورونه او سوداګریز ځایونه خراب او ویجاړ شول. په دې سره هغو ټولنې له ډېر بد اقتصادي حالت سره مخ شوې چې وار له مخه په کړاو کې وې.

۱۰۱. پورته موارد په ډاګه کوي چې افغانستان د ډېرېدونکي اقلیمي کړکېچ له خطرونو سره مخ دی. ځانګړی راپور ورکوونکی زیاتوي چې افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د اقلیمي بدلون په وجه ډېر زیانمنوونکی دی او د اغېزو دفع کولو لپاره مرستې ته اړتیا لري.

۱۰۲. د تېرو څلوېښتو کلونو جګړې په ترڅ کې ټولو لوریو داسې جګړیزې طریقې او وسلې وکارولې چې د ژوند چاپېریال ته جدي زیانونه او د ماشومانو او راتلونکو نسلونو لپاره ناوړه روغتیایي پایلې لري. ځانګړی راپور ورکوونکی له جګړې وړاندې، د جګړې په جریان کې او له هغې وروسته چاپېریال ته د دا ډول زیان د مخنیوي، کموالي او اصلاح غوښتنه کوي. دی د جګړې ښکېل لوري دې ته هڅوي چې اصلاحي اقدامات تمویل کړي ترڅو د افغانستان اوسنی او راتلونکي نسلونه د دې فرصت ولري چې په خپله ځمکه کې له روغتیا او عزت ډک ژوند وکړي .

## D. بشري وضعیت او ورته ځواب ویل

۱۰۳. په ۲۰۲۴م کال کې، د اټکل له مخې ۲۳.۷ میلیونه کسان چې د نفوس له نیمایي زیاته برخه جوړوي، بشري مرستو ته اړمن دي. دا وضعیت د ملکي زیربناوو لکه روغتونونو او روغتیایي مراکزو او د اوبو او بدرفت سیستمنو او ترانسپورتي شبکو په خرابېدو سره لا وخیم شوی دی. د شدیدو اړتیاوو باوجود، د ۲۰۲۴م کال تر مۍ میاشتې پورې، بشري مرستې د اړمنو له ډلې یواځې ۲۸٪ ته یې رسېدلې دي. دا وضعیت د بشري مرستو او پیسو د شدید کمښت له امله رامنځته شوی دی. د ۲۰۲۴م کال تر آګست میاشتې پورې د بشري ځواب یواځې ۲۵٪ بودیجه تامین شوې ده. بشردوستانه فعالان مجبور شوي دي چې له ډېرو زیانمنېدونکو کسانو سره مرستو او ملاتړ ته لومړیتوب ورکړي او په ځینو وختونو کې بشردوستانه پروژې تعلیق او حتی بندې شوې دي.

۱۰٤. بشري ځواب چې وار له مخه په کافي اندازه اوږد دی، د لاسرسي له محدودیتونو او فعالیتونو سره، او په ځانګړي ډول د هغو بوروتراتیکو او اداري خنډونو له امله چې د واکمنو او د دوی د وسله والو ځواکونو له لوري وضع شوي، لا ستونزمن شوی دی. له ۲۰۲۱م کال راهیسي په جګړو کې د پام وړ کموالی باید د بشردوستانه لاسرسي د زیاتوالي سبب شوی وای، خو مرستندویه سازمانونه اوس هم په خپلو فعالیتونو کې مداخله ګوري. د کارکوونکو د حساسو

معلوماتو لپاره غوښتنې، د اړمنو کسانو په انتخاب کې د مداخلې هڅې او په راجستر کولو او د اسنادو په تایید کې ځند په دې برخه کې شته ستونزې دي.

۱۰۵. د اغېزناکې او بشپړې بشردوستانه مرستې په مخکې بله ستونزه په ښځینه بشردوستانه کارکوونکو دومداره بندیز او د دې بندیز تطبیق دی. بشرپال سازمانونه خبر ورکوي چې د ښځینه وو له ګډون سره تړلي محدودیتونه يې فعالیتونه اغیزمنوي، د مثال په ډول د وېش په مراکزو کې د ښځو په حضور باندې محدودیتونه، په ارزونو کې د دوی ګډون او د مرستو د ښځینو کارکوونکو نیول او پر وړاندې يې ګواښونه له شته مشکلاتو څخه دي. په ښځینه بشرپالو کارکوونکو باندې دوامداره بندیز، د بشردوستانه فعالانو په وړتیا باندې د پام وړ منفي اغېز کوي او نشي کولای ښځو او نجونو ته رسیدګي وکړي. دغه راز د دوی وړتیا محدودي چې د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي قربانیانو ته د جنسیت پر اساس تاوتریخوالي پروګرامونه جوړ کړی.

۱۰۶. لکه چې مخکې هم ورته اشاره شوې، ځانګړی راپور ورکوونکی د ځمکنیو ماینونو اوله جګړې د پاتې شویو چاودېدونکو توکو په هکله ډېر اندېښمن دی. د اټکل له مخ تر ۱.۲ میلیون متر مربع پوره ځمکې په ماینونو، د منفجره موادو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو باندې پوښل شوې ده. د له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو موجودیت زده کړو ته په لاسرسي، روغتیایي تاسیساتو او ژوندچارو باندې د پام وړ اغیز ښندي. دا ماینونه د هغو راستنېدونکو ملکیانو لپاره هم ګواښ دی چې له بې ځایه کېدو وروسته خپلو کورونو او ټولنو ته ورګرځي، دغه راز د بشرپالو کارکوونکو لپاره هم ګواښوونکي دي. د حفظ الصحې مراکزو کموالی، په ځانګړي ډول په کلیوالو او لرې پرتو سیمو کې، د دې لامل شوی چې ټپي کسان په وخت سره روغتیایي مرسته ترلاسه نه کړي. د ملګرو ملتونو ادارې او بشرپاله سازمانونه د ماینونو د پاکولو، د خطر کمولو د زده کړو او ژوندي پاتې کسانو ته د مرستې رسولو مهم کار پر مخ وړي. خو دغه کار د بشردوستانه پیسو د کړکچ په وحه خورا اغېزمن شوی، ځیني پروژې له وړاندې ودرېدو ته مجبوره شوي او نورې يې په ۲۰۲۴م کال کې د بندېدو له خطر سره مخ دي.

## VI. کلتوري حقونه

۱۰۷. د طالبانو په واکمنۍ کې د افغانستان بډایه تاریخي، هنري او کلتوري میراثونه ورو ورو کمرنګه کېږي. دودیز جشنونه لکه نوروز (د لمریز کال لومړۍ ورځ) او یلدا (د ژمي په موسم کې لمانځل کیږي)، چې دواړه د ملګرو ملتونو روزنیز، علمي او کلتوري سازمان لخوا د کلتوري میراث په توګه ثبت شوي، اوس يې نمانځل منع شوي دي. د دې پر ځای چې خلکو ته اجازه ورکړل شي چې سره راټول شي او دا ډول مناسبتونه ونمانځي، مجبورېږي چې په خصوصي توګه او په کلکو امنیتي تدابیرو کې د هغوی نمانځنه وکړي. په دې توګه په خلکو کې د جلا والي او تبعیض مفکوره او احساس لا پیاوړې کېږي.

۱۰۸. طالبانو د موسیقۍ په اورېدلو او غږولو بندیز لګولی او غیراسلامي يې بولي. که چا سره د موسیقۍ آله ولیدل شي، تاوتریخوالی او ناسم چلند ورسره کېږي او ځورول کېږي. د ۲۰۲۴م کال په جولای میاشت کې د واکمنو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په بدخشان او سرپل ولایتونو کې د موسیقۍ آلو ماتول تایید کړل. د دغو خرابو کړل شویو موسیقۍ آلو تصویرونه ځانګړي راپور ورکوونکي هم ولېدل چې تر ډېره د واده له صالونونو، هوټلونو، رستورانتونو او د خلکو له کورونو را غونډې شوې وې.

## ورزش

۱۰۹. د ۳۳م اولمپیاډ د دې کال په جریان کې، په افغانستان کې ښځې او نجونې په ورزش کې د ګډون کولو له حق څخه منع دي. طالبانو دوی له پارکونو او جیمونو کې منع کړي دي، په داسې حال کې چې د محرم لرلو شرط څخه څرګندېږي چې بهر ورزش کول خورا ننګوونکي دي. د ټولنیز او کلتوري ژوند له یوې اړینې برخې څخه د دوی د ایستلو سربیره، په سپورت کې د میرمنو او انجونو په ګډون کولو بندیز د دوی په فزیکي او رواني روغتیا او هوساینې مهمې او ناوړه اغیزې لري.

۱۱۰. پر یاد بندیز سربېره بیا هم هغه افغانو ښځو چې په بهر کې دي وکولای شول د افغاسنان د رسمي ټیم او یا د کډوالو د ټیم د برخې په توګه د ۲۰۲۴م کال د پاریس په المپیک او پارا المپیک سیالیو کې سیالي وکړي. د افغانستان ټیم له درېیو ښځو او دوه سړیو څخه جوړ و، خو واکمنو د افغانستان د ټیم ښځینه غړې په رسمیت ونه پېژندلې.

۱۱۱. کومې افغان مېرمنې چې له هېواد څخه تښتېدلي، نیوکه کوي چې ملي او نړېوال ورزشي بنسټونه ور څخه ملاتړ نه کوي. ځانګړي راپور ورکوونکي اندېښنې راپورته کړي چې ځیني ورزشي بنسټونه نشي کولی او یا هم نه غواړي چې

د افغان مېرمنو او نجونو د ګډون په برخه کې خپل سازماني مکلفیتونه ترسره کړي. دی په دغو ملي او نړېوالو ورزشي بنسټونو غږ کوي چې مشوره وکړي او د افغان ښځینه ورزشکارانو د ملاتړ په برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

## VII. نړېوال ځواب

.۱۱۲ د ۲۰۲۳م په ډسمبر کې، د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) پرېکړه لیک تصویب کړ چې هغه د بشري حقونو او انساني ننګونې په ګوته کوي چې اوس مهال ورسره افغانستان مخ دی، په ځانګړي توګه د ښځو او نجونو حقونه. دغه راز په افغاني ټولنه کې د ښځو په لازمي رول او د هغوی د بشپړ، مساوي، معنی لرونکي، او خوندي ګډون پر اهمیت یې ټینګار کړی. یاد پرېکړه لیک غړي هیوادونه او اړونده برخه وال وهڅول چې د ملګرو ملتونو خپلواکه ارزونه په پام کې ونیسي او د هغې سپارښتنې پلي کړي، په ځانګړې توګه په یو ډېر منسجم، همغږي، منظم او جوړښت لرونکي شکل د نړیوالې ښکیلتیا زیاتولو سپارښتنې. دغې پرېکړې له ملګرو ملتونو هم وغوښتل چې د افغانستان لپاره دې خپل ځانګړی استازی وټاکي، خو تر دې دمه څوک د ځانګړي استازي په توګه نه دی ټاکل شوی.

.۱۱۳ د ملګرو ملتونو لخوا د ۲۰۲۴م کال د فبروري په ۱۸ـ ۱۹ مه او د جون له ۳۰مې د جولای تر لومړۍ نېټې د قطر په دوحه کې د افغانستان لپاره د سیاسي لارې د ټاکلو لپاره دوه لویې غونډې جوړې شوې. په لومړۍ غونډه کې نړیوالو ځانګړو استازو، د ملګرو ملتونو چارواکو او د مدني ټولنې استازو ګډون کړی و، خو طالبانو په کې ګډون ونه کړ. دوی دوهمې غونډې ته چې تر ډېره د خصوصي سکټور د سوداګرۍ او د کوکنارو پر وړاندې د مبارزې په هکله وه، خپل استازي لېږلي وو. دوهمه غونډه له دې امله چې په اجنډا کې یې د بشري حقونو او په ځانګړي ډول د مېرمنو د حقونو موضوع نه وه ځای شوې، تر نیوکې لاندې راغله. افغان مېرمنې او غیرطالب افغانان هم په کې نه ول. خو د جولای په دوهمه نېټه یو کم شمېر د دې لپاره بلل شوي وو چې ځانګړي استازي ته معلومات وړاندې کړي.

## VIII. پایلې

.۱۱٤ د طالبانو په لاس په افغانستان کې د واک له نېولو درې کلونه تېرېږي او د دوی د لومړنیو ادعا سره سره چې وایي د بشر حقونو نړېوالو معاهدو ته درناوی کوي؛ د بشر حقونو سرکوبول او ورځخه سرغړونه ډېره شوې ده. دا پدیده د دوی په پالیسیو کې جوته ده چې د ښځو ځپلو او ځورولو ته یې ادامه ورکړې او په پراخ او فعال ډول پلې کېږي. دا په ډېرېدونکې توګه روښانه ده چې واکمن چارواکي د نجونو لپاره له شپږم ټولګي پورته او د ښځینه وو لپاره د پوهنتونو د دروازو د بیاخلاصولو لپاره کمه اراده لري او یا یې هېڅ لري نه. حساب ورکولو ته د اوسنیو چارواکو نه کېنول به نه یواځې دا چې له جزا څخه د دوی مصئونیت زیاتوي، بلکه دوی ته به لا زیات جرات ورکړي.

.۱۱۵ تر نن ورځې پورې نړېواله ټولنه په دې کې پاتې راغلې چې د طالبانو د دا ډول چلند پر وړاندې دې اغېزناکې لارې چارې په کار واچوي او یا د وضعیت د ښه کولو لپاره یوه منسجمه او همغږې ستراتیژي وکاروي. دا ناکامۍ د افغانستان د خلکو پر ژوند وېجاړونکې اغېزې لري چې له ژورو او ډېرېدونکو زیانونو کړېږي. غړي دولتونه د ښځو، سولې او امنیت اجنډا په شمول د بشري حقونو په برخه کې د خپلو ژمنتیاوو او مکلفیتونو په ترسره کولو کې هم پاتې راغلي.

.۱۱٦ ځانګړی راپور ورکوونکی په دوامداره توګه په دې ټینګار کوي چې په افغانستان کې د تعامل په پار یو اصولي او د بشر حقونو محوره لیدلوری مهم دی. د تعامل هر ډول عادي کول باید د بشر حقونو په برخه کې په څرګندو، محسوسو او په خپلواک ډول تایید شویو پرمختګونو ولاړ وي. که پرمختګونه شوي وي، باید ومنل شي او ورځخه ملاتړ وشي. که د بشر حقونو او بالخصوص د ښځو او نجونو د حقونو په برخه کې پرمختګونه نه وو شوي، غړي دولتونه باید ورپسې اقدامات ترسره کړي.

.۱۱۷ که کنټرول نه کړلای شي، د ښځو د ځپلو او جنسیتي ځورونې بنسټیز شوی سیسټم به ژور او فرانسلي زیانونه ولري چې اغیزې به یې ډېرې سترې او تلپاتې وي. خبره دلته پاتې کېږي نه بلکې د راتلونکې لپاره هم امنیتي ګواښونه او خطرات رامنځته کولای شي چې اغیزې به یې یواځې د افغانستان په جغرافیه او پولو کې نه وي، بلکې ډېرې پراخې به وي. دا کار په نړۍ کې بې ساری دی او د طالبانو او د ښځو د آزار او اذیت په برخه کې د دوی د پالیسیو عادي کول به نړېوالې پایلې ولري. پر دې سربېره به د نجونو او ښځو د حقونو په برخه کې په نړۍ کې په یو شاته تګ ټینګار وکړي، د نورو رژیمونو لپاره به یوه بېلګه وګرځي او په نړېواله کچه به د ښځو ضد اشخاص لا ډېر جسور کړي.

۱۱۸. په یو ټولشموله او د بشر حقونو محوره لیدلوري په وسیله په افغانستان کې او د هغه له ګاونډیانو سره د سولې امکان زیاتېږي خو د یوې داسې حکومتولۍ په وسیله یې امکان را ټیټېږي چې د بشر حقونو ته په درناوي کې پاتې راځي. دا ډېره مهمه ده چې د افغانستان په باب په هره سیاسي پروسه کې د بشر حقونه په محور او مرکز کې وي. د دې کار په برخه کې پاتې راتلل نه یواځې دا چې په وجدان برابر کار نه دی، بلکې د یو باثباته، ټولشموله او نېکمرغه افغانستان امکان هم په جدي په خطر کې اچوي.

## IX. سپارښتنې

**۱۱۹. ځانګړی راپور ورکوونکی په خپلو پخوانیو راپورونو کې راغلې سپارښتنې تکراروي چې ډېری یې یا نه دي پلي شوي یا یوازې په جزئي توګه پلي شوي.**

**۱۲۰. ځانګړی راپور ورکوونکی د افغانستان اوسنیو چارواکو ته سپارښتنه کوي چې:**

**(a) د بشر حقونو د نړیوالو معاهدو له مخې چې افغانستان منلي، خپل مسئولیتونه ترسره او هغه پالیسۍ او قوانین لرې کړي چې له دغو نړیوالو مکلفیتونو سرغړونه ګڼل کېږي؛**

**(b) د جنسیتي ظلم بنسټیز شوی سیستم په فوري ډول له منځه یوسي چې ښځې او انجونې له خپلو حقونو او بنسټیزه آزادیو څخه بې برخې کوي، په شمول دې:**

**(i) د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون په ګډون د ټولو تبعیض آمیزه قوانینو، اوامرو او فرمانونو لغوه کول؛**

**(ii) بیاځلي ښځو او مېرمنو ته زمینه برابرول چې په ټولو کچو او ټولو مضامینو کې هراړخیز باکیفیته تعلیم ته مساوي، ټولشموله او برابر لاسرسی ولري؛**

**(iii) د ښځو او نجونو پر آزاد تګ راتګ باندې لګول شوي بندیزونه لرې کول؛**

**(iv) ډاډ حاصلول چې ښځې او نجونې د فزیکي، ارواپوهنیز او د امیندوارۍ روغتیایي خدمتونو په ګډون با کیفیته روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی لري؛**

**(v) له ملګرو ملتونو سازمان او نورو بشرپالو ادارو سره د کار په شمول په فوري ډول ښځو ته په ټولو برخو کې د کار کولو د حق بېرته ورکول؛**

**(c) په جګړو کې د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي، جنسي تاوتریخوالي او تېري، اجباري ودونو، او قاچاق په شمول له مضرو اعمالو څخه د ماشومانو د ساتلو لپاره د اغېزناکو اقداماتو ترسره کول؛**

**(d) ټولشمولیت ته وده ورکول او د مختلف نژاد او مذهب لرونکو او نورو اقلیتونو او د یو څنډې ته شوي شالید لرونکو خلکو سره د تبعیض څخه ډډه کول، د دوی د امنیت ساتلو لپاره اغیزمن ګامونه پورته کول او د هغو کسانو پلټل او عدالت ته راوستل چې د دوی په وړاندې د تاوتریخوالي مسئول دي؛**

**(e) په سمدستي توګه د مرګ په سزا، جسمي او نورو مجازاتو باندې چې شکنجه یا بد چلند بلل کېږي، بندیز وضع کول؛**

**(f) د خپل سري نیولو او توقیف، د جبري ورکیدو، غیر قضایي وژنې، شکنجې یا ناوړه چلند د ټولو قضیو مخنیوی او په سمدستي توګه څېړل چې د چارواکو یا نورو لخوا ترسره کېږي، او عاملینو ته د نړیوالو معیارونو سره سم، له عادلانه محاکمې وروسته سزا ورکول؛**

**(g) په سمدستي او غیر مشروط ډول ټول هغه کسان چې د خپلو بشري حقونو د ترسره کولو لپاره توقیف شوي خوشې کول او د بندیانو د حقونو تضمین کول او له نړیوالو معیارونو سره سمې محاکمې کولو څخه ډاډ ترلاسه کول؛**

**(h) ډاډ تر لاسه کول چې اساسي خدمتونه ټولو افغانانو ته رسېدلي. په ځانګړي ډول لاندې کسانو ته خاصه پاملرنه ساتل: حاشیې ته تللې ډلې، ښځې، ماشومان، هغه کسان چې په حاشیې ته شویو ډلو او اقلیتونو پورې تړاو لري، زاړه او مسن کسان او معیوبین؛**

(i) په هغه پرېکړه باندې له سره غور کول او را ګرځول چې ځانګړی راپور ورکوونکی افغانستان ته له لاسرسي او تعامل څخه منع کوي او ځانګړي استازي او د ملګرو ملتونو نورو کسانو ته آسانتیا برابرول چې افغانستان ته سفر وکړي.

۱۲۱. ځانګړی راپور وکوونکی سپارښتنه کوي چې غړي دولتونه دې:

(a) د عمل یو هر اړخیز پلان جوړ کړي چې په افغانستان کې بشر حقونو او انساني او سیاسي کړکېچ ته رسیدګی وکړي. په دې پلان کې باید طالبانو ته د بشر حقونو معیارونه، د تطبیق مهالوېش، د څارنې کسان او د پرمختګ په هکله یې راپور ورکوونکي مشخص شوي وي. له ښځو، ماشومانو او ځوانانو، نژادي او مذهبي اقلیتونو او نورو اقلیتونو ته تللیو ډلو سره مشورې وکړي؛

(b) ډاډ حاصلول چې له اوسنیو چارواکو سره هر ډول تعامل د بشر حقونو په برخه کې د مشخصو، محسوسو او په خپلواکه توګه د تایید شویو پرمختګونو په اساس دی. په ځانګړي ډول د بشر حقونو په برخه کې پرمختګونه او په مشخص ډول د ښځو او نجونو حقونه چې د بشر حقونو د منل شویو معیارونو مطابق ارزول شوِي وي؛

(c) د هېواد د راتلونکي په هکله په ټولو مذاکراتو کې د ښځو له استازي، مساوي، معنالرونکي او خوندي ګډون څخه ډاډ حاصلول. د اوسنیو چارواکو په هکله د نړېوالې ټولنې د پالیسیو د تعریف پر مهال هم باید دا چاره په پام کې وي؛

(d) په معنالرونکې توګه په نړېواله اجنډا کې د افغانستان د وضعیت د ساتلو لپاره ګامونه؛ په ځانګړي ډول په نړېوالو او څواړخیزو ټولنو او بنسټونو کې او هغه بنسټونه چې ښځو، سولې، امنیت او په وسله والو جګړو کې د ماشومانو موضوع ته ځانګړي شوي دي؛

(e) د افغانستان د مدني ټولنې بنسټونو او په ځانګړي ډول هغو بنسټونو ته چې د ښځو له لوري رهبري کېږي او هغه چې د ښځو حقونو بنسټونه دي؛ د پیسو او تمویل د زیاتولو په ګډون د افغانستان بشري او بشر حقونو کړکېچ ته د یو باثبات تمویل له لرلو ډاډ ترلاسه کول؛

(f) د افغانستان د خلکو شتمنۍ له شدیدو محافظتي کړنو سره خوشي شي ترڅو د افغاستان مرکزي بانکولۍ او بشر پالو کړنو ته چې ګټه یې ټولو افغانانو ته رسېږي، پیسې برابري شي؛

(g) د حساب ورکولو لپاره د داسې لارو پېژندنه او پیاوړي کول چې په ژوندي پاتې شویو کسانو باندې متمرکزې وي، چې لاندې موارد په کې شامل دي، خو په دې پورې محدود نه دي:

(i) د دې ډاډ ترلاسه کول چې نړېواله جرمي محکمه د هغو کسانو د پلټنې لپاره چې نړېوال جرمونه یې ترسره کړي دي، اړینو سرچېنو او همکارۍ ته لاسرسی لري؛

(ii) د هغو هڅو ملاتړ چې افغانستان د بشر حقونو نړېوالو معاهدو، چې دا هېواد یې برخه دی، د سرغړونو په خاطر د عدالت نړېوالې محکمې ته حاضر کړي.

(iii) د بشریت ضد جنایت په توګه د جنسیتي آپارتاید د ګڼلو له هڅو ملاتړ کول؛

(h) د نورو هدفي بندیزونو په شمول پر طالبانو باندې د فشار له هرې لارې او طریقې کار اخېستل.

راپور ورکوونکی سپارښتنه کوي چې د ملګرو ملتونو دې:

۱۲۲. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د ټولو فعالیتونو لپاره د یوې ګډې، اصولي، د بشر حقونو محوره او ځواب ویونکې پالیسۍ اتخاذ او ورځځه ډاډ ترلاسه کول، ترڅو دا اطمینان ترلاسه شي چې له اوسنیو چارواکو سره د ملګرو ملتونو سازمان ټول تعاملات د بشر حقونه په پام کې نیسي او ورته رسیدګي کوي.